# ناځوانه انجلۍ



لیکوال: سید ادریس سادات

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ناول

# ناځوانه انجلۍ

لیکوال: سیدادریس سادات

چاپ کال: ۱۴۰۲

ketabton.com - The Digital Library



# بسم الله الرجمن الرحيم

## د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| نوم . | ناځوانه انجلۍ (ناول) |
| ليکوال . | سيدادريس سادات |
| ترتيب کوونکي . | د سادات کتابتون ټول غړي |
| ډيزاين . | طيب سکون |
| چاپ چارې . | شهباز خبرندويه ټولنه |
| مالي ملاتړ . | سرفراز خان |
| د ليکوال شماره. | 0731363201 |
| چاپ شمير . | ۱۰۰۰ |
| د چاپ نوبت . | دوهم |
| چاپ ځاى . | کابل |
| چاپ کال . | ۱۴۰۳ |


تر دي مخکې ناول امپراتور ناول وو، چې د احمد شاه بابا په ژوند ليکل شوى وو، هغه ناول هم درسره ولولئ.

ketabton.com - The Digital Library





ketabton.com - The Digital Library



# ډالۍ

دا ناول دې هغه چاته ډالۍ وي، چې زه يې ليکوال کړم، زه يې شاعر کړم.

ماته يې رڼا راکړه، او پخپله لکه د شمعې ويلې شوه.

زه يې له مايوسۍ څخه راپورته کړم.

مګر پخپله به اوس د دې ليکنې په لوستلو سره ژاړي.

ما او هغه له يو بل سره ښه برابر وو، کاش......

ketabton.com - The Digital Library



سریزه:

شروع کووم، د لوی او سپیڅلي رب په پاکه نامه!

نن د څوارلس سوه دوه کال د نهمې میاشتې شپږم تاریخ دی، د دې ښاره مړه ځراغونه تر ډېر وخت وروسته یو ځل بیا روښانه شوي دي.

زه ګرځم خپل کتابونه هرې کتابخانې ته وړم.

ترځو یې راته یو څوک چاپ کړي، مګر په پنځو کلونو کې داسې څوک پیدا نشو، چې زما کتاب راته چاپ کړي.

په همدې کش مکش کې واټساپ ته مې مسیج راغی ویل یې:

تاسې سادات یاست؟

ما وویل: هو! مهرباني وکړئ.

ویل یې:

تاسې پخپل کتاب د کلیوالې پیغلې آرمان کې دا ذکر کړي دي.

چې تاسې د کتاب د چاپ لپاره مالي ملاتړ ته اړتیا لرئ، ما وویل:

هو وروره!

د دې خبرې اوریدو سره مې ټول مړه آرمانونه چې په وجود کې خنثی شوي وو.

ketabton.com - The Digital Library



یو ځل بیا راپورته شول، دغه هلک زما لیکنې او زما شاعرۍ ته نوی رنګ ورکړ، د سرفراز خان د احسان بدله زه هیڅکله هم نشم ادا کولای بس زموږ د میندو دعاوې تل همداسې خلکو سره دي.

هر چا چې د کتاب ولوست، او ګټه یې ورځینې واخیسته.

بس صرف په بدل کې یې سرفراز خان ته ډیرې دعاوې وکړئ.

انشاالله ډیر ژر به د سرفراز خان د ټول ژوند کیسه هم ستاسې و مخې ته کیږدم.

نور نو زه خپلې خبرې نه اوږدوم.

او تاسې ددې جذابې کیسې لوستلو  ته رابولم

ketabton.com - The Digital Library


مولوي صاحب اواز وکړ، خدای مو وبښه صفونه برابر کړئ.
پینځې مو رابلهٔ وهئ.
موبایلونه مو بند کړی.
مشران مخکې ودرېږئ، کشران وروسته ودرېږئ.
د دې اواز نه وروسته الله اکبر شو.
د جمعې دوه رکعته لمونځ مو امام صاحب پسې وکړ.
نور سنت مو بېل وکړل.
کور ته راغلو په سر مې درد وو، سر مې بالخت ته تکیه کړ.
همداسې ویده شوی وم.
یو وخت مهمان خانه کې چا په بالخت وویشتم.
سر چې مې پورته کړ، ومې لیدل ملګري وو.
تشناب ته ولاړم، اودس مې وکړ او د ماذیګر لمانځه ته ودرېدم.
ملګري لهٔو ته ناست وو.
ساعت یې تېر وو، ما خپل لمونځ ادا کړ.
موټر کې وخوځیدو، لاړو درونټې خواته په ننګرهار کې د درونټې د پارک جوانان چکر نو بیا بیل خوند کوي.
د اوبو شراره او بند یې نو بېل کیف کوي.
موږ ځوانان وو د لیرې غره سر ته وختو او د هم هغې ځای نه مو د پارک ننداره شروع کړه.
ځان سره مو خوندور بیسکټ او یو A1 نوشي هم وړې وه.

ketabton.com - The Digital Library


هر څنګه چې و، خو هغې ځای کې یې نو بیا بیل خوند وکړ.
د شپې تر اتو بجو مو همدلته چکر وواهه.
ورځ تېره شوه، مګر د شپې هم زموږ ګپ شپ نه خلاصېده.
مخکې د طالبانو پوسته وه.
هغوی هم راغلل ساعت یې تیر وو.
په خبرو کې مو د خپل یار حکمت سره لانجه راغله.
حکمت مو سخت پعذاب کړ.
ویل یې:

یاره مکوی زه خفه کیږم!
خو یو دم جګ شو خپل موټر کې کښېناست او غر شو، چې ولاړ.
موږ ورته حیران شؤ، چې په دې شپه اوس موږ په څه کې کورونو ته ځانونه ورسوو.
خو یو طالب راته وویل:

راځئ دلته موږ سره ځای شته شپه به دلته تېره کړئ.
سهار به پخیر بیا ولاړ شئ، موږ ورته ډیر ټینګار وکړ.
چې موږ ځو!

خو ویې نه منله، ویل یې نن به پاتې کیږی.
نن شپه همدلته د طالبانو سره پاتې شو.
موږ خو ماړه هم وو، خو بیا یې هم د خپلې پښتونولۍ له مخې شړومبې، وچه ډوډۍ او لګ څه لوبیا راوړل.

ketabton.com - The Digital Library


ورسره مو ښه په نره ډوډۍ وخوړله.

د خوب وخت شو.

ټول ملګري ویده شول خو زه یو د اسلامی امارت عسکر ته سوچ وړی وم.

ډیر اندیښمن راته ښکاریده.

د پوستې مشر هم همدا وو خو موږ ته یې هغه بل ملګري بلنه راکړې وه.

زه د دې طالب جان خواته ورغلم.

د شپې یولس بجې وې، سپوږمی څوارلسمې ته رسیدلې وه.

د درونټې اوبو ښه په شدت سره د پاکستان پر لور منډې وهلې.

په دې ورځو کې د درونټې سیند هم ښه په مسته کې و، داسې ښکاریده لکه مسته پیغله چی په پسرلي کې د خوشحالۍ نڅا کوي.

په ننګرهار کې یخني نوې نوې شروع شوې وه.

خو بیا داسې په لوړ او د سیند د پاسه ځای کې یخني هم ځان ته څه ویل!

په غرونو کې لیرې به یوه نیمه انګیزه د مارغانو اورېدل کیده، نور د شپې خاموشي خوره وه.

ما له طالب جان څخه پوښتنه وکړه.

قاري صاحب محترم:

ډیر اندیښمن راته ښکارې خیر خو دی کنه.

داسې خندا یې وکړه لکه څوک چې یې پرې په زوره کوي.

راته کړه یې:

ketabton.com - The Digital Library



د خیر ژوند خو د هغو خلکو لپاره پیدا شوی، چې مینه یې نه وي کړي.
مینه خو زما په ټولنه کې هیڅوک هم نه مني.
بیا زما په ژوند کې خو یې بیخي څوک نه مني که تاسی مینه وکړئ، بیاهم یوه خبره ستاسی د ښاریانو نور څوک دي.
بس چې مور اوپلار درسره راضي شو.
نور د چا غمه هم نکوئ.
خو که زمونږ ژوند ته راشئ.
بیا پوهیږې چې نفر یو وې، خو واک به یې د ټول کلي سره وي.
که چیرې په کلي کې درسره د یوه تن هم خوښه نه وي.
ته خپل هدف ته رسیدلای نشې.
ته ووایه ځوانه!

ما کې د څه کمی دی؟
ماورته وویل: قیصه راته وکه څه درپیښ شوي دي؟
خپل ملګري ته یې غږ وکړ.
هلکه نعیم الله یو دوه پیالې چای راوړه لږ څه چڼیې او کشمش هم ورسره راوړه.
هر څه یې ورته راوړل، طالب جان قیصه داسې شروع کړه.
زما ملګرو ته هم خوب نه ورته، مګر هغوی د قیصې د اوریدلو شوق نه درلود، ځکه یې ځانونه په خوب ووهل.
د طالب نور عسکر هم ویده شول، یو عسکر خو لا ماته وویل:

ketabton.com - The Digital Library


وراره:

سبحان لالا به دې دماغ وخوري، خو په قیصه به یې پوه نشې.
ټول خپلو ځایونو کې پریوتل طالب جان وویل:

زه د چپرهار یم.
هر کله چې زه د اوو کالو شوم زما یاد دي پلار مې بوتلم مکتب کې یې واچولم.
دې سره نو صدیق د کمپلی نه سر راوباسه.
د قومندان سبحان کیسې ته یی غوږ ونیوه.
همداسې یوځو طالبان هم ورته متوجه شول چې اوس څه وایي.
ویل یې:

مکتب کې به درسونو کې زیات لایقه وم.
د چپرهار په دولتي لیسه کې وم.
په اول کال مکتب کې اول نمره راغلم.
زما په یاد دي، خدای دې زما بابا سره ښه وکړي.
ماته یې زما د اول نمره ګۍ په انعام کې بایسیکل واخیست.
زه ورته ډیر خوشحاله وم.
او هره ورځ به مې بیرون چلاوه، د کلي او کوڅو جنکیانو به راته تر سترګو لاندې لاندې راکتل.
خو چې ما به سترګې ورواړولی، نو ځان به یې په بل څه مشغول کړ.
دا مهال نو د ټولې پوستې عسکرو د قومندان سبحان کیسې ته غوږ نیولی وو.

ketabton.com - The Digital Library



او سر ته يې لاس تکيه کړی و.
قومندان د چای له پیالې غړپ هوار تېر کړ.
بيا يې وويل : دې چای کې خو بوره هم نشته، ياره نعيمه زر کوه بوره راوړه.
روښان ورته وويل:

ښه قومندان صاحب کیسه کوه.
قومندان وويل:

تر دې وروسته به زه مکتب ته په بايسکل تلم.
يوه ورځ مکتب نه راروان وم.
يو هلک روان وو لمر يې مخ باندې د تندې خوله راماته کړې وه.
ماچې وکوت، صنفي ابراهيم وو.
ما ورته وويل:

ابراهيمه سايکل ته وخېژه، چې په منډه دې پخير ورسوم.
ويل يې نه ياره زه خپله ځم.
خو ما په زور سايکل ته اوچت کړ.
او تر خپل کوره مې ورساوه.
هغه ابراهيم د همغې ورځې نه وروسته زما ملګری شو.
او تر اوسه زما ملګری دی،او زما هر راز ورسره شريک دی.
هغه ابراهيم اوس فل حال لپاره دلته موجود دی، لاس يې تاو کړ ټولو باندې
ييې وګرځاوه، چپ لاس ته يې په تور ابراهيم ودراوه.
ويل يې هغه ابراهيم دغه دی.

ketabton.com - The Digital Library


او ان شالله ابراهیم به زما تر مرګه پورې یار وي.

صدیق ورته وویل:

خا قومندان صاحب نو دې سره تا کومک کړی وو! نوره قیصه کوه....

***

ویل یې:

د مکتب وختونه ډیر خوندور ول.

دومره خوندور وو، چې خوند یې تراوسه هم زما په خوله کې شته!

د مکتب نه وروسته دفلافل برګر خوړلو بیا بېله مزه درلوده.

دا د مینې او د خوند نه ډکه دوره ډیره ژرختمه شوه.

زه د دولسم نه اول نمره فارغ شوم.

ډیر ژر مو کانکور ته داخله وکړه.

د کانکور امتحان کې مې ټوله د مختلفو ولایتونو انجینري انتخاب کړه.

دا کال مې ښه خواري کړې وه.

تر څو په کانکور کې ننګرهار ته کامیاب شم.

خو د قدرت چې څه خوښه وي هماغسې کوي، زه پنجشیر کې انجینرۍ ته کامیاب شوم.

خو زما خوښ نه وو، زما غټ ارمان دا وو چې زه ننګرهار پوهنتون کې درس

ketabton.com - The Digital Library



ووایم.

خو دا ارمان مې پوره نشو.

هغه شاعر څه ښه وايي چې:

دا دنیا نیمګړې پاتې له ارمانه ده !

پاتې له بادشاه او د ګدا نه ده.!

په پنجشیر کې مې غوښتل یو اطاق کرایه کړم، خو ډیره کرایه یې غوښتله.

د یو محصل لپاره لږې پیسې هم ډیرې وي، خیر څه بندوبس مې یې وکړ.

په لومړۍ ورځ پوهنتون کې استاذ ډیر خوندور درس ورکړ، په درس کې یې نوي نوي مضامین ځای پر ځای کړي وو.

زه ډیر خوشحاله شوم، شکر چې دومره تکړه استاذ لرم، استاذ ټول درس ورکړ.

ما په اخر کې ګوته وچته کړه ،پوښتنه مې له استاذ څخه وکړه؟

استاذ جانه:

موږ سیول انجنیري او د بریښنا انجنیري لرو ،که د دې دواړو تر منځ توپیر راته په ګوته کړئ؟

زه کښیناستم.

استاذ اخر صف کې یوه انجلۍ پاڅوله.

ورته یې وویل:

د سبحان د پوښتنې ځواب تاسې ورکړی، استاذ آرام پر خپله څوکۍ کښیناست.

انجلۍ بغیر له وارخطایی نه پیل وکړ.

ketabton.com - The Digital Library



د برېښنا انجنيري د برېښنايي سامان الاتو څخه بحث کوي.
او سيول انجنيري د تعميراتو او لويو لويو بلډګونو جوړونکي ته وايي.
استاذ وويل:

ډېر ښه کښينۍ.
په اخر کې يې يوځل لپاره بيا خپل او د پوهنتون قوانين تېر کړل.
او ولاړ.
زما فکر ځواب ورکوونکي انجلۍ ته شو.

هغې پوهنتون کې هم يو ناول راخيستی وو او مطالعه کاوه يې، زړه مې غوښتل خواته يی ورشم.
اونور هم ورڅخه څه وپوښتم.
خو خپل ننګرهاري غرور راته اجازه رانکړه، هر کله چې پوهنتون رخصت شو.
زه خپل اطاق ته روان شوم، د اطاقونو اپارتمان لږ څه د پوهنتون نه ليرې خاموشه ساحه کې وو.
صرف د اپارتمان چوکيدار وو، نور د اپارتمان مخې ته هيڅوک هم نه وو.
زه چې پورته راوختلم خپلې خونې ته يو دم چا لاس را وچاوه، د لاس نه يې ونيوم.
ما چې وکتل هماغه انجلۍ وه، چې پوهنتون کې يې استاذ ته ځواب ورکړی وو.
داسې راته وبرېښيده لکه يو ورک څيز چې مې پيدا کړی وي.
ويل يې فکر کوم، ته ننګرهاری يې او فارسي نه درځي.

ketabton.com - The Digital Library


پښتو کې به يې درته ووايم.

تاسې چې پوهنتون نه را وتلۍ، دغه قلم له تاسې ولويد.

ما تاسې پسې ډير تېز وځغاستل.

خو ګېر مې نکړې شکر چې اوس ودريدې، هن دا قلم واخله او زه ځم.

انجلۍ روانه شوه.

ماورته وويل:صبر وکه موټر به درته ونيسم.

ويل يې نه کور مو لنډ دی، مننه.

انجلۍ لاړه خو په ما شپه او ورځ حرام شول د زړه درزا مې ثانيه په ثانيه زياتېدله.

تلويزيون مې ځان ته چالان کړ.

خو تبې ونيوم.

په بړستن کې مې ځان ونغاړه.

سمه لړزه راباندې لګيدلې وه.

په سبا پوهنتون ته نه ولاړم.

استاذ زنګ را ووهه، ويل يې سبحانه وراره نن نه وی راغلی خيريت خو وو کنه.

ما ورته وويل:

استاذ جانه! خير و خيريت وو، خو بس لږ څه مريض وم.

ان شا الله که درب العزت خوښه وه سبا به درشم.

ويل يې سمه ده.

ketabton.com - The Digital Library



خدای دې ورسره ښه وکړي په دې ورځ مې ټول صنفیان پوښتنې ته راغلل.

خو ښه دا وه چې هغه انجلۍ ورسره نه وه راغلې، د چا له امله چې زه دې حالت ته راغلی وم.

ځکه که هغه راغلې وای ،زما درد دوه چنده کیده.

خو بس ښه وو، سهار کې رک روغ شوم، خپل پوهنتون ته راغلم.

د پنجشیر پوهنتون نو بیا بل ډول ښکلا لري.

د هغې ځای د ښکلا انځورول، د غټو غټو لیکوالانو د وس کار ندی زه خو یو عادي طالب عسکر یم.

طالب جان غږ کړ:

نعیمه چای پیاله بیا تشه شوه.

را ډکه یې کړه.

او ته قدوسه ووځه بیرون احوال واخله بیرته راشه.

قدوس وواته او نعیم قومندان ته پیاله ډکه کړه.

شپه ښه پخې ته رسېدلې وه خو په پوسته کې داسې څوک نه و، چې د سبحان قومندان کیسه دې په نیمه کې پریږدي او لکه د یوې ښکلې سندرې پشان یې اوریدلو ته تږي وو......

ketabton.com - The Digital Library


***

قوماندان بیا پیل وکړ:

په سبا چې پوهنتون ته ولاړم،نو استاذ راته وویل:

سبحان تو بیا د قطار اول بشین.

ویل یې:

ketabton.com - The Digital Library


ته اول صف کې کښېنه.

نن هغه ځواب ورکوونکې انجلۍ هم په لومړي صف کې ناسته وه.

زه نه پوهیږم.

خو غوښتل مې د هغې انجلۍ په نوم پوه شم.

د پوهنتون لومړۍ ورځې وې حاضري هم جوړه شوې نه وه.

تر څو حاضرۍ کې یې نوم واورم، خو د دې انجلۍ په نوم پوهېدل زما لپاره زیات ضروري وو.

د همدې لپاره مې کتابچه راوخیسته د صنف نه بهر ووتم.

دوه دقیقې وروسته راغلم.

دروازه مې بنده کړه صنفیانو ته مې وویل:

بشنو!

استاذ به مه گفت که نام همصنفایت نوشته کو.

مه نام شما را نوشته میکنم.

اوس نو ما بله لاره نلرله، تر څو د هغې انجلۍ په نوم پوه شم.

څکه مې د ټولو صنفیانو په نومونو لیکلو شروع وکړه.

د یو څو نومونه مې ولیکل.

دا وو، چې د ځواب ورکوونکي انجلۍ وار راغی.

سر مې ټیټ واچاوه او د قلم په خوزولو سره مې ورنه وپوښتل:

ببخشید خاله اسم شما چیست.

زه په فارسي نه پوهیدم.

ketabton.com - The Digital Library



ځکه مې د دختر پر ځای ورته خاله وویل:

جینی نو ځمکه او آسمان پر سر واخیستل.

ویل یې:

مه برت خاله معلوم میشم.

تو چی رقم اي فکر کردي، که به مه خاله بگویی.

ما ورته ډېر عذر وکړ.

ښېنه مې ورځینې وغوښتله.

خو ویې نه منله.

د انجلۍ شور او غوغا تر ادارې ورسیده او لږ وخت کې مدیر صنف ته راغی.

ټول صنف کې غلي کښېناستو، خو په ما رښا ورځ تکه توره شپه شوه.

ځکه که اوس راته ووایې، چی تاته چا ویلي دي چی نومونه ولیکه؟

نو زه خو ورته ځواب نلرم، مدیر راته همدا خبره وهم کړه.

ما نو د هوښیارۍ نه کار واخیست، دا مهال مو د دیني برخې استاذ په صنف کې نه وو.

ما ورته وویل: به ما استاذ حلال گفت که نام همصنفایت نوشته کن.

د رَوِیې نه مې معلومیدم، چی وارخطا وم.

او غلطي را څخه شوي وه، ځواب ورکوونکې انجلۍ راباندې پوهه شوه.

مدیر ورته وویل:

برو به استاذ حلال صدا کو.

ځواب ورکوونکي انجلۍ ورته وویل:

ketabton.com - The Digital Library


خیر مدیر صاحب!

مه کتش بودم که اساذ هلال برش گفت، که نام همصنفایش نوشته کن.
امکان داره که اشتبا شده باشد.
مدیر ولاړ انجلۍ راته وویل:

زر کوه هله نو نومونه ولیکه، ما ورته وویل:

خا نوم دې وایه؟
ویل یې:

زما نوم یلدا دی.
او د پلار نوم یې حاجي شیرین وو.
بس مجبوري وه، د ټول صنف نومونه مې ولیکل.
هغه کتابچه راسره اوس هم په کور کې ده.
او چې هر وخت د هر صنفي نوم گورم نو یو مې هم له یاده نه وځي.
رخصت شو، د یلدا یوه ملگري چې بیرون راووته ماته یې اواز وکړ.
سبحان وروره واوره!
ویل یې:
د صنفیانو مخکې مې درنه پوښتنه نشوه کولای.
خو اوس به یې درنه وپوښتم.
تا ولې نن بې پرسانه د صنفیانو نومونه لیکل؟
په تا خو ټول صنف شکي شوی دی، دا وخت نو د غرمې دولس بجې وې.
د پنجشیر یخه هوا د لمر گرمي جذبوله، خو پوره نه لږ لږ یې زموږ د بدن

ketabton.com - The Digital Library


پوستکي هم سوځول.
نری باد وو، زما په سترګو چشمې او په سر مې د ځوانی غرور پروت وو.
چشمې مې لیرې کړې، انجلی ته مې په تریخ انداز وویل:

زه چې څه کووم هیڅوک هم حق نلري، چې له ما څخه د هغې په اړه پوښتنه وکړي.
خپله مور هم نه!
نو ته بیا لا څوک یی؟

ویل یې:

زه د یلدا ملګري یم.
او ستا په مقصد مې پوره سر خلاصیږي.
او زه ستا سره د مرستې لپاره راغلي وم.
خو څه ته چې یې نه غواړې زه لاړم.
لاس نه مې ونیوله.
په حیرانی مې ورته وویل:

څه ته د یلدا ملګري یې؟
خیر دی خورجانې، له ماسره مرسته وکړه.
زه بیخي یوازې یم.
ویل یې پوهیږم او مرسته درسره ځکه کوم، چې ته زموږ ننګرهاری یې.
ما ورته وویل:

ketabton.com - The Digital Library



ښه اوس چل راوښایه څه وکم، تر څو د یلدا زړه لاس ته راوړم.

ویل یې:

ښه ته اول راته دا ووایه زما نوم درته یاد دی؟

ما ورته وویل: نه

ویل یې:

وئ، لږ مخکې دې زما نوم ولیکه کنه.

ما ورته وویل:

هېر مې شو، بیا یې ووایه!

ویل یې:

د یلدا نوم دې څنګه ندی هیر شوی؟

ورته ومې وویل:

بس هغه خو هغه ده.

ویل یې:

نه ته باید له هغې مخکې زما نوم یاد کړې ته باید د یلدا په فکر کې بیخي نشې.

اوباید هغه عادي وګڼې، واقعا یلدا همداسې هلکان خوښوي.

که چیرې ته ورپسې کلک شوې، نو ډیر ژر بدې پریږدي.

ketabton.com - The Digital Library



او داسې ډېر هلکان یلدا پرېښي دي، سمه ده.

ما ورته وویل: سمه ده

ویل یې:

یلدا ستا طرفته لګه څه مایله شوې او وروسته به نوره هم درته نږدې شي.

ته کار په مه لره.

اوصرف صنف کې استاذ نه پوښتنې ډېرې کوه ،او د درس په باره کی نوي نوي مطالب راوړه.

اوخپل درس په یادو زده کوه.

مطلب دومره خواري وکړه چې ته د یلدا خوښ شې، نه پوهیږم د دې انجلۍ څه مطلب و.

خو ماسره یې پوره پوره کومک وکړ، حمزه پښتنه وکړه؟

قومندان صاحب!

د دې انجلۍ پته بیا ونه لګیده، چې څه مطلب یې و.

ټولو وربانډی غږ وکړ، یاره حمزه قومندان صاحب کیسې ته پرېږده.

دې موضوع ته به هم راشي.

سبحان قومندان ورته وویل:

راځم ستا پوښتنې ته وراره ته د ډول نه مخکې مه ګډیږه(!)

ketabton.com - The Digital Library


***

وخت تیریده یوه ورځ استاذ پاڅولم، پدغه ورځ رانه استاذ ډیره سخته پوښتنه وکړه.
ما ټول کتاب کې دا پوښتنه نه وه لیدلې، داسې ورځې هم راتللې چې ټول صنف ته به د یو سوال ځواب نه ورته، خو ماته به یې ځواب راته، خو داسې ورځ کله نه وه راغلې چې زه د بې جوابه پاتې شم.
دا مې لومړۍ ورځ وه چې بې ځوابه وم، سخته غوصه راغله.
په دې ورځ مې طبیت بیخي خراب وو.
استاذ وویل:

ketabton.com - The Digital Library



زه درته درس وایم تاسې يې نوټ کړی ،ټولو نوټ کړ ماته غوصه راغلې وه.
سر مې ټيټ اچولی وو، هر کله چيغ استاذ دصنف نه ووت.
يلدا راغله خواته مې کښېناسته.
ويل يې : زه پوهيږم ته ډېره خواري کوې.
خو خير يوه نيمه ورځ داسې راځي چې خپل ځان کمزوری احساس کړې.
ته دې خپلې خوارۍ ته ادامه ورکړه.
د همدې ورځې وروسته مو سره خبرې ازادې شوې.
هره ورځ به مو سره خبرې کولې او خوشحال وو، د رخصت نه وروسته به يو ځای په لاره تلو.
ښه خبره خو داوه، چې زه به يې تر خپل اطاقه ورسولم او دابه په خوندوره موسکا د لاس په خوځولو سره راځخه پنا کېده.
د پنجشېر هر بوټي، هر غر او هرې ونی سره مې د يلدا له خاطره مينه پيدا شوه.
يخې هوا به راته تل يلدا رايادوله.
ځکه چې کوم ځای کې چې پوهنتون دی، د هغې ځای هوا ډېره يخه ده.
زما ليدنه به په ورځ کې يوځل ضرور د يلدا سره کېده.
پوره يوه مياشت مې د ژوند نه دومره خوند واخيست، چې په دا دومره عمر کې مې اخيستی نه وو.
خو فکس څلور مياشتې د پوهنتون تيرې شوې، چې د کور نه زنګ راغی.
اوکی مې کړ، مور مې وه.
ويل يې:

ketabton.com - The Digital Library



سبحانه زویه!

ته خو چې پوهنتون ته تللی یې زموږ بیخي پوښتنه نکوې.
دا ولې لکه چې په دومره لنډه تګ سره رانه پردی شوې؟
ما ورته وویل:

نه مورې خدای دې نکړي.
پدې ورځ مې د کورنۍ ټولو غړو سره په موبایل خبرې وکړې.
پلار سره مې هم ډیرې خبرې وکړې.
په اخیر کې راته مور وویل:

بچیه!

موږ خو پلان نیولی راروانه نه، بلې شنبې ته دې انشالله د تره واده دی.
او ته همدې راتلونکې هفتې ته د پوهنتون نه رخصت واخله او راشه.
ما ورته د ښه نه بغیر بل جواب نه لاره، ځکه مې ورته ښه وکړل.
خو خفه پدې وم، چې بغیر د یلدا نه به دا دومره وخت څنګه تېروم.
پوره دوه هفتې دي او څنګه به یلدا ته وایم، چې زه د دوه هفتو لپاره ننګرهار ته ځم.
زما ارمان خو دا وو، چې د ننګرهار پوهنتون کې درس ووایم.
خو اوس را باندې د پنجشېر پوهنتون د خپله ځانه هم زیات ګران وو.
د دې ورځې په سبا مې پوهنتون کې اجازه واخیسته، یلدا چې وکتم یو ناڅاپه یې تر سترګو اوښکې و څڅیدې، ژر ژر یې اوښکې پاکې کړې.
ویل یې:

ketabton.com - The Digital Library


ته چې ځې، دلته یوازې ژوند کول خو زما لپاره بسیار مشکل هست.

ما ورته وویل:

دوه هفتې دي ان شالله ژر راځم.

ویل یې:

زه ستا نه بغیر ژوند نشم کولای.

ما ورته وویل: زه هم

ویل یې :سمه ده ولاړ شه خو نن نه سبا به ځې.

ما ورته وویل:

مورجانې راته ویلي، چې همدا نن راشه خو نه یې منله.

سبا راپسې اطاق ته راغله.

لږ څه چپس او جوش کړې هگۍ یې پخې کړې وې.

ما ورته وویل:

دېته څه ضرورت وو، ویل یې:

لاره ډېره اوږده ده.

که وږی شوې نو دابه بیا وخورې.

او دا هم واخله پنځوس زره افغانۍ د لارې خرچه او په واده کې چاته ځان کم را نه ولې.

زه پوهیږم زموږ پشان محصلین تل د پیسو له لحاظه خراب وي.

او همیش یې بل ته لاس نیولی وي.

ketabton.com - The Digital Library


خو ته به تر هغې بل ته لاس نه نیسی تر څو چې زه ژوندۍ یم.
ما ورته وویل:

نه زه دا پیسې نه اخلم.
هر څه کوای شم.
خو دومره بې غیرته هم نه یم.
ویل یې خیر دی مکوه، زه دا نشم زغملای چې ته دې د چا مخې ته کم راشې.
ځکه دا پیسې درکووم.
ما ورته وویل:

گوره یلدا ما درته وویل کنه.
زه بیا دا نشم زغملای چې ستا د لاس نه پیسې واخلم.
شکر ماسره شته.
بس ډیر په زورو یې راکړې.
که واقعیت خبره وکم.
پیسو ته زما هم حاجت وو، ځکه چې یو ځوان سړی د زهرو څکل غواړي،
خو دانه غواړي چې د خپلو مشرانو نه پیسې وغواړي.
دا نو نه پوهیږم چې ښه عادت ورته ووایم، یا بد خو عموماً ټولو ځوانانو کې دا عادت شته او اکثر والدین هم د بچي په قیصه کې نه وي، حتیٰ تر دې چې ددې پوښتنه یې هم نکوي، چې دا زوی مې روغ دی که ناروغ.
زه د ننگرهار په لور رهي شوم.

ketabton.com - The Digital Library



چې پوهنتون ته راغلی وم، بس سیده به پوهنتون ته تلم او بیرته به اطاق ته راتلم.

نور بهر حالت مې لیدلی نه و او نه هم یلدا چاته پرېښودم.
خو چې لږ څه مو موټر مخکې ولاړ.
دا مازدیگر وخت شو.
بس ډریور وویل:

راځی ورونو همدلته لمونځونه وکړو، بیا به پخیر ځو.
د موټر نه ښکته شوم ،دا ځای هم چک پینټ وو او هم جماعت!
په چک پینټ کې یو تک تور پنجشیری ناست وو.
پکول یې کوږ په سر ایښی وو ،توره ټوپکه یې غاړې ته اچولې وه.
ما ورته وویل:

ورور جانه دا د اودسونو ځای چیرې دی؟
برگ برگ یې راوکتل یو دم یی چغه کړه.
برو گم شو سگ، مه کت گل ببو گپ نمیزنم.
عسکر ته زیر شوم.
یو څو لحظې مې فکر وکړ.
توبه خدایه!

دا څه رقم بد اخلاق خلک دي.
دا وخت راته یو نفر په ولې (مټ) لاس کېښود.
ویل یې:

ketabton.com - The Digital Library


ولاړ به شی هاغه د منارو خوا کې چینه روانه ده، همتله اودس کولای شی.
لاړم د اودس ځای ته خپل اودس او لمونځ می ادا کړ.
خدای نه مې دعا وغوښته، تر څو سفر مو بې خطره شي.
یو ځل بیا موټر ته وختو، سور پلنګوچ کې ناست وم.
داسې مازیګري وخت وو.
د برق لینونه لکه د مار پڅیر په غرونو کی تېر شوي وو.
کوم نفر چې راته د اودس ځای ښودلی وو، هماغه نفر مې دا ځل خواکې کښېناست.
ما ورځینې پوښتنه وکړه.
کاکا جانه!
داګل ببو چاته وایي؟
او ددې ځای دا عسکر ولې دومره بداخلاقه دي؟
ویل یې:
لکه چې مخکې دې د دې پنجشیریانو بد اخلاقي د پښتنو سره لیدلې نه وه؟
ما ورته وویل:
نه!
ویل یې:
دوی هر وخت همداسې بد اخلاقي کوي.
بیا مې وپوښتل:

ketabton.com - The Digital Library



دا ګل ببو يې چاته ويل.

ويل يې:

دوی ګلببو ګلبدين حکمتيار ته وايي او دوی ټول پښتانه د ګلبدين غړي بولي.

دا پخواني وخت و، اوسني پنجشيريان پوهيږي، چې هر پښتون د ګلبدين غړی نه دی.

او هيڅ ډول کينه ورسره زړه کې نه ساتي.....

ketabton.com - The Digital Library



***

دې سړي راته خبره شروع کړه ویل یی:

دا پنجشیریان ندي؟

دا ټول د سقاو له اولادې څخه دي.

سقاو به یې هغه چاته ویل چې د پسه، غوا او همداسې نورو مالونو پوستکي به یې جوړ کړي وو.

او ښار کې به یې پدې پوستکو کې اوبه ګرځولې هر کور او هرې سقاوې والا به ترې اوبه اخیستې.

زیاتر به ترې د سقاوو والا اوبه اخیستې.

نو ځکه یې دوی ته سقاو ویل.

ketabton.com - The Digital Library


غازي امان الله خان هم سقاويانو له وطن څخه شړلی وو.
که چیرې تاسې د بغدادي پير ناول لوستی وي، نو بچه سقاو به مو ښه په رسمياتو پيژندلی وي.
ډير لږ وخت کې کابل ته راورسيدو.
موټر مو ښه په شدت کې روان وو، کابل کې بې حجابي وه، اکثر انجونو به حجاب نه کاوه.
زه هم ځوان وم.
یو ځای کې مې په یو انجلۍ سترګې ولګيدې، نيغ يې همدا ماته کتل، ما چې وروکتل زما اوس هم يادیږي.
موټر مو راه بندۍ کې بند شو زما او د انجلۍ سترګو په سترګو کيدل.
ټول خلک حيران کړ.
زياتي نورو موټرونو کې هم خلکو وليدو.
جينۍ روانه وه، د ناز واړه واړه قدمونه يې اخيستل، خپل د تګ هنر يې هر سړي ته خوده.

زلميانو ته بيا دا مزل ډير خوند ورکوي، چې يو دم يې پښه په تيږه کې ونښتله، او خطر ناک درز يې وخوړ.(!)

(!) دغه علامه د خندا معنا ورکوي.
زما د ژوند تر ټولو جالبه خاطره هم همدغه وه. ههههه
موټر مو د کابل نه راووت، د ماهيپر په ګړنګ په کلار کلار لاندې راکوز شو.
همداسې د تنګي غرونه يې هم شاته پريښودل او ډير ژر د لغمان ولايت ته

ketabton.com - The Digital Library


داخل شو.
همداسې درونټه او ورپسې ننگرهار شو.
کور ته خدای پخیر راورسولم.
دلته مې ځان لپاره ښکلی واسکټ او نوي جامې سره د گران بیو بوټانو واخیستل.
لاړم سقاوی ته ځان مې د واده لپاره ښه برابر کړ، سقاوې نه چې راوتم.
ویل یې پنځه سوه روپۍ شوې.
ههههه ورته هیران شوم، خو بس ور مې کړې.
کور کې مو محفل شروع وو، زموږ د کور دستور داسې وو:
چې پوره شپږ یا اووه ورځې مخکې نه به خلک راغلي وو.
او کور کې به مو ډیکونه لگېدلي وو، دا شپه نو زموږ خپلوانو ښه نڅا وکړه.
کور کې د کور انجونو هم ښه زړونه یخ کړل.
ما تر هغې وخته نه مدرسه لیدلي وه او نه جماعت بس د گمراهۍ په ژوند کې اخته وم.
زما زړه رانه پنجشیر کې پاتې وو.
چې کله به وي، پنجشیر ته ولاړ شم، او د خپلې یلدا سره یو ځای شم.
دوه هفتې په کور کې را باندې د دوو کالو نه هم زیاتې شوې.
خو شکر تیرې شوې.
له ډیر ځنډ وروسته پوهنتون ته روان شوم.
هر څومره چې به لاره تېرېده زما زړه به تخنیده، څکه چې یو ځل بیا د یلدا وخواته ورتلم.

ketabton.com - The Digital Library


خوندور خوندور فکرونه مې ذهن ته راتلل، او د ډېر انتظار وروسته یو ځل بیا پوهنتون ته ورسېدم.
تر ټولو اول خپل اطاق ته ولاړم، ماته د یلدا دوي کور معلوم وو.
خو ورتللای ځکه نشوم، چې د یلدا مور او پلار به راباندې خبر شي.
دا ورځ مې هم همداسې تېره کړه، په سبا چې پوهنتون ته ولاړم، یلدا پوهنتون کې هم نه وه.
ډېر زیات ورته اندیښمن شوم، ما ویل خدای ناخواسته څه ورته پېښ شوي نه وي.
دوهمه ورځ هم د یلدا څخه په جدایي کې تېره شوه.
په دریمه ورځ یلدا پوهنتون ته راغله، خو حالت یې بل ډول وو.
ماته یې بیخي نه کتل او زما په لیدو یې هیڅ خوشحالي څرګنده نکړه.
هرکله چې پوهنتون رخصت شو.
یلدا ډېره تېزه د خپل کور په لور روانه وه.
ما یې لاس ونیو ورته مې وویل: یلدا زه سبحان راغلی یم.
شکر چې ومې لیدلې.
ستا د دیدن په انتظار کې خو په ما باندې دوه هفتې دوه کاله شوې.
او ته زما په لیدو هیڅ خوشحاله نه شوې.
ویل یې: ګوره سبحانه نن زه لږ څه ناجوړه یم.
سبا پخیر خبرې کوو.
نوره روانه شوه زه هم ورپسی ورغلم.
ورته ومې ویل:

ketabton.com - The Digital Library


چې نا جوړه يې راځه زه به دې روغتون ته بوځم کنه.
ويل يې نا!

زه خپله ځم.
اوس لپاره تاته ښه وخت غواړم.
لاس يې راته ونيو.
ما چې د يلدا نوی کرکټر وليد.
دومره مې تری زړه تور شو چې مخ مې ورځينې واړاوه.
او ورته ومې ويل: نور غواړم چې د يوې نوې يلدا سره خدای پاماني وکړم.
اونه هم زه د يلدا سره کومه اړيکه لرم.
زه په پخوانۍ يلدا مين يم او زه پخپل خدای پوره يقين لرم، چې هماغه ذات به ماته زما پخوانۍ يلدا را کوي.
داخبره مې ورته وکړه، او د اوښکو نه په ډکو سترګو لدې ځايه ولاړم.
ما يلدا په سمه معنا هيروله، خو نه هېرېده ځکه نو يوه ورځ يوه روغتون ته لاړم
.

ډاکټر ته مې خپله قيصه وکړه.
ورته مې وويل : چې دغه مشکل دی او ته راسره مرسته وکړه.
زه غواړم هغه انجلۍ هېره کم.
خو د هغې انجلۍ هيرول نشم کولای.
ويل يې: ته به داسې وکړې چې خپل پوهنتون به بدل کړې او د دې ځای نه ليرې ولاړ شه.

ketabton.com - The Digital Library


زما هم دې خبرې ته خیال نه و، چې پوښتنه مې وکړه.
خلکو ویل:

چې تبدیلي کیږي او ته کولای شې، چې ننگرهار پوهنتون ته هم ځان تبدیل کړې.
نو ځکه مې عریضه ولیکله تر څو تبدیل شم.
د تبدیلی ټولې چارې مې ډېرې ښې سرته ورسیدلې.
او زه یې ننگرهار ته تبدیل کړم، سخته وه خو کاکا مې دولت کې وظیفه لرله.
هغې ډېر کار راته وکړ.
هر کله چې له پنجشېره تلم، نو بیک مې واخیست بیرون راووتم، گورم.
د اپارتمان مخې ته مریم ولاړه ده.
مریم هغه انجلی وه چې لومړۍ یې ماته د یلدا خبره کړې وه.
ما چې ولیده ورته حیران شوم.
بیک مې کیښود، نرۍ موسکا مې ورته وکړه.
ورته ومې ویل: ووایه یو ځل خو دې په یلدا راته زړه وڅیره اوس غواړې څه ووایې.
ویل یېې:

ځې خو هسې هم ځې.
خو نن به درته یوه خبره وکړم، ما ورته وویل:

وایه کنه.
ویل یې دلته نه کیږي، راځه چې هوټل ته ننوځو.

ketabton.com - The Digital Library


هوټل ته ورغلو او د ښیښې د دروازې خواته په چوکۍ کې کښیناستو.
د تروو کبانو او تریخ کباب اډر مو ورکړ، شنې چای یې هم ورسره راوړې.
په کبانو مو نارنج وزبیخه.
بیا مې ورته وویل: ښه مریم اوس ووایه تا څه ویل؟
ویل یې خبر یې؟

یلدا اوس د بل هلک سره په فورنر کې ګرځي، هغه اوس ستا په رقم غریب ځوان باندې څه کوي.
ما ورته وویل: ګوره مریم دروغ مه وایه یلدا بغیر له ما څخه د هیچا سره هم مینه نشي کولای.
ویل یې:

ښه څه، چې باور نکوې.
سبا سهار لس بجې د لوړ غر خواته راشه او ویې ګوره.
ما ورته وویل:

سمه ده.
چې دا خبره ده یوه ورځ بله هم تیروم...

ketabton.com - The Digital Library


***

ویل یې:

ښه څه، چې باور نکوې، سبا سهار لس بجې د لوړ غره وخواته راشه او ویې گوره.

ما ورته وویل:

سمه ده.

چې دا خبره ده، یوه ورځ بله هم تېروم.

دا ورځ هم په ډېره سختۍ مازیگر او بیا شپه شوه.

پخول مې د لاسه نه کیدل بهر ووتمه، تر څو د خوراک لپاره یو څه واخلم.

او ځان د لوړې څخه پرې خلاص کم، د شپې اته بجې وې هر څه بند وو.

ځکه نو بازار ته ورپسې روان شوم، تر بازاره ډېره لاره وه د سرک په پیاده رو روان وم.

ما ویل زه که چیرې کوم موټر تېریده لاس به ورته ونیسم، بازار ته به مې بوځي، پدې سرک کې فکرونو په مخه کړم.

د خزان پاڼې یخ باد د ونې د څانگو څخه یوه یوه لاندې راغورځوله.

نور د هیڅ آواز نه وو.

ketabton.com - The Digital Library



صرف له ليرې ځايه د سپو غپا راتله، لاره ډيره خطرناکه معلومېده.
يو څه مزل مې وکړ، د لږ څه ځنډ وروسته د سرک بر سر ته له ليرې ځايه يو غځيدلی ښيز ښکاره شو.
ما فکر وکړ، امکان لري کومه تيره وي، خو چې ورنږدې شوم.
انسان وو او د مرګ په حالت کې وو!

ورټيټ شوم.
سر مې يې پخپله غيږ کې کيښود.
ورته ومې ويل:
ولې وروره څه خبره ده؟
ويل يې:
د خدای لپاره ما روغتون ته ورسوه.
زه واړه واړه بچي لرم.
شکرونه يې وباسل چې خدای په داسې وخت کې ورته يو پښتون انسان په لاس ورکړ.
ځکه فارسيوانان که هر څومره هم څوک د مرګ په حالت کې يا خراب حالت کې وګوري.
ورڅخه بيريرياو هيڅ ډولکومک يورسره نکوي، که ريښتيا خبره وي زه هم

ketabton.com - The Digital Library



ډېر ووېرېدم.

ځکه که چیرې دا سړی کوم ترهګر وي، خو ښه وو خپل اسناد يې راښکاره کړ.

سړی د ملي اردو عسکر او دلته په پنجشیر کی استخباراتو والا وو.

فکر کوم پنجشیریانو پیژندلی و او بیا یې ویشتی وو.

سخت ویریدم، خو بله لار راسره نه وه.

خپل ننګرهاري غرور پرېنښودم، سړی مې اوړی ته راپورته کړ.

پدې تکه توره شپه کې يو خپله شوم او يو مې ټپي سړی په شا کړی وو.

د لږ مزل څخه وروسته سخت ستومانه شوم.

سړی مې د اوږی نه کوز کړ، د سړک پر سر چوکۍ وه، لږ څه کښناستم.

د لږ ځنډ وروسته پر سړک د مقابل لوري څخه يو موټر راښکاره شو.

لاس مې ورته وخوځاوه.

زموږ طرف ته يې اشټرنګ راتاو کړ، چې ومې کوت موټر يې ډک وو.

ویل يې:

ورورہ ولې څه خبره وه چې پدې نیمه شپه راوتی يې.

ورته ومې ویل:

ښار ته ځو ټپي دی راسره.

ویل یی:

ولا ورور جانه!

ketabton.com - The Digital Library


ماسره هم ناروغان شاته سیټ کې دي ،او باید چې کور ته یې ورسوم.
او ماسره ځای هم نشته ګنې ضرور به مې رسولی وای.
ما ورته وویل: مننه.
موږ به څه بله لاره چاره ولټوو، ویل یې:
درووه هر څنګه چې کوئ ویېکړئ، خو دا مې واوری:
مخکې لاره باندې چې هر څوک د شپې پیاده تېر شوی، روغ ندی پاتې شوی.
ځکه په دې لاره د انسانانو د وحشت هیڅ نښه نشته، خو نور مخلوقات دي چې انسانان پعذابوي.
خدای شته ډېر سخت وویریدم ،او تکل مې وکړ.
تر څو چې موټر نه وي پیدا شوی نور پیادل نه ځم، پوره یو ساعت موټر ته معتل شوم...

***

په سر مې دوره راغله ما داسې موجود په مخ د ځمکه کې بل ځای لیدلای نه وو.
نرۍ سټ، د کدو پشان لوی سر، لنډ او بد شکله موجود وو.

ketabton.com - The Digital Library



ددې موجود بد شکلي زما ستوني تریخ او وچ کړ.
هیڅ خبره مې د خولې نه راوته تر څو دوی پرې قانع کړم.
دوه درې دقیقې زما او د هغې موجود لخوا څخه خاموشي وه، خو وروسته هغه خاموشي ماته کړه.
ویې ویل:
دومره جرأت.
اخر ولې؟
څوانه!
ته هم لکه چې په مینه کې ناکام شوی یې.
څکه د خپل مرگ وخواته راغلې(!)
زموږ ملگرو مخکې ته تعقیبولې، تاته څو نفرو وویل چې مخکې خطر دی،
خو بیا هم راغلې اخر ولې؟
ما ورته په وچ ستوني وویل:
ټیپې دی راسره، غواړم ښار ته ولاړ شم.
ویل یې دا ټیپي مو څه کیږي، ما ورته صفا خبره وکړه.
دا ټیپي مې هیڅ نه کیږي، خو مخکې څای کې چا ویشتی وو، او ماته خپلی پښتو ددې اجازت رانکړ، تر څو همداسې بینوا یې پریږدم.
ویل یې:
تا موږ د خپلې همدردۍ او ددې پښتو لپاره پریږدو.
زما فکر نه وو.

ketabton.com - The Digital Library


چې ریشتیا په پنجشیر کې دوی ځنګه پښتو وایي ځکه د ډار په اخري حد کې وم.
یو خوانه خپل ځان وړل راباندې سخت شول او دا په اوږه مې ټپی هم وو.
پښو مې لړزه پیل کړه.
خو راته یې وویل:

سمه ده ولاړ شه.
او تر ښاره پورې د هر ډول مشکل نه خاطر جامه اوسه.
او ها چې بیا پدې لاره یوازې رانشې ،دا وخت په سرک یو ګاډی مخې ته راروان وو.
نا اشنا موجود مې یو دم له مخې څخه لرې شو، د موټر د ټایر یخ شمال مې په مخ ولګید.
د بیرې خؤله مې د مخ نه لږ څه لیرې شوه، خو موټروان راته بیخې حیران شو.
بیخي ونه درید اوسیده ولاړ، زه هم له دې ګړنګ نه ژر ژر راواوښتم.
مخکې په لاره کې هم ډیر ویرونکو ځایونه وو ،خو اول کې به تیږې راواریدې، وروسته لکه چا چې ورته ویلي وي.
د تیږو وارونه به بند شول.
د سرک پر سر به زما په طرف سپو هم غپل، مګر یو ځل به شاته شول او په منډو به شول.
ما ټپي ډیر ژر روغتون ته ورساوه، د زړه نه مې یو خدای خبر وو.
غوښتل مې چې خوب وکړم، او دماغ مې ارام شي.

ketabton.com - The Digital Library


ډوډۍ ته مې هيڅ زړه نه کيده، خو لږ څه برګر او اورکباب مې واخيستل.
يو بوتل اوبه هم.
ددې ځای نه مې پريکړه وکړه.
چې په سپيشل ټکسي کې به خپل اطاق ته ولاړ شم.
ځکه سخت ويريدلی وم.
او غوښتل مې ځانته مې لږ څه دماغ ارام وي.
او د هيچا خبره هم وانه ورم.
ټکسي مې کرايه کړه.
روان شو.
د موټر ښيښه يې نيمه خلاصه پريښې وه، يخ شمال به مې د مخ پوستکی کم کم سوځاوه.
ډير ژر هغه ګړنګ ته ورسيدو، خو دا ځل پکې هيڅ نه ښکاريدل.
خو په ما يو ځل بيا د ويرې چپه راغله.
ځکه چې همدې ځای کې د هغسې مخلوق سره مخ شوی وم.

دا ځای هم تېر شو او ډير ژر خپل اطاق ته ورسېدم.
اطاق کې مې ځانته وخت نشو تيرولی، سخت ويريدم.
ځکه مې ملګری غني راوغوښت، خدای دې زما له ملګرو سره ښه وکړي.
غني زما د ګپ شپ ملګری وو، ځکه پدې نيمه شپه راغی.
په همدې شپه مې ورته دا قيصه وکړه، هغه هم سخت وويريده خو ښه وو دوه تنه وو.

ketabton.com - The Digital Library


دا شپه مو تږوله په ویرې سره تېره کړه.
د سبا ستوري راوختل، اسمان خپل تورتم ورو ورو په شنه پرده بدل کړ.
دسپوږمۍ هم رڼا شیبه په شیبه کمېده، ما خپل لمونځ وکړ.
سورة یاسین مې تلاوت کړ، لمر راختلو ته لږ وخت پاتې وو.
غني مې هم له خوبه راویخ کړ.
هغې خپل لمونځ وکړ، موټر ورسره وو.
ویل یې:

ښه یارو!

زه به پوهنتون ته ورشم او دا د موټر کیلي واخله، چې رخصت شوم بیا به یې بوځم.
واو زما نو پدې ورځ موټر پکار وو او هغه هم راته پیدا شو.
خو پدې لا نه پوهیدم، چې لوړ غره ته به موټر ورختلای شي کنه.
ډیر په فکر کې ناست وم.
خو بس ما ویل:

ځه که د موټر ځای نه وو لاندې به یې کوم پارکنګ کې ودروم.
موټر ته ورغلم.
فکس نهه بجې وې موټر مې چالان کړ، لږ څه اوبه مې ورواچولې.
او د یو څه شیبې وروسته پکې کښېناستم، زه بد سړی نه وم.
خو که چا را سره ناځواني کوله، بیا ډیر بد کېدم.
ځکه زه یواځینی بنده یم، چې ناځواني مې نه خوښیږي.

ketabton.com - The Digital Library



خو دا خلک بار بار ما سره ناځواني کوي.

لوړ غره ته ډیره لاره وه.

او داسې په نهه نیمو بجو د غره وخواته ورسېدم.

خو که غره ته ختلم، نو ضرور شل دېرش دقیقې تېریدې.

اوغره ته هیڅ د موټر لاره تللې نه وه.

لاندې یو تم ځای وو، هغې کې مې موټر ودراوه، خو هغوی ویل غره ته د شا لخوا یوه لاره راختلې.

او ته کولای شې چې هغې خوانه ورته وخیژې.

ریشتیا هم یوه لاره وه، زه په موټر کې پوره پنځلس دقیقو کې وروختم.

پنځلس دقیقې مې صبر وکړ.

دلته نو پنځلس دقیقې وروسته مریم هم راورسېده.

په اشاره مې وپوهوله چې څنګه راځی کنه.

اشاره یې وکړه شاته رارروانه ده، ریشتیا هم یو نوی ځوان ورسره وو، لاسونه یې د یو او بل په په اوږو اچولي او روان و.

دا وخت صدیق غږ کړ.

ولا قومندان صیب سخته ناځوانی یې درسره کړي.

ښه ده چې ستا په ځای زه نه وم کنه، دا جینۍ رانه له دې ځایه ژوندۍ نشوه وتلای.

ما صدیق ته وویل:

ketabton.com - The Digital Library



ته چوپ شه یاره قومندان صاحب هم امکان لري جینۍ نه وي پریښی.
ښا قومندان صیب قیصه اورو...

***

قومندان صاحب وویل: ماچی دا حالت ولید.
د غوصې نه سور او شین شوم.
بس پدې وخت کې مې فکر او دماغ د خپل وحشیتوب ومنله، جینۍ او هلک مې له سنګ څخه تېر شو.
ښه فکر مې وسنجاوه.
دوه درې ځله مې خپل سر پدې شتړنګ ښه کلک کلک وواهه.
اخر مې موټر راوګرځوه او د هلک او جینۍ مخې ته ودریدم.
له موټره راکوز شوم.
انجلۍ او هلک راته حیران دریان ولاړ وو.
چې ورغلم انجلۍ مې له لاسه ونیوله، هلک مې لاسته لاس راوغځاوه.
لاس مې پرې تاو کړ.
او خېټه کې مې ښه مومندۍ لغته ورکړه.
هلک چپه شو.

ketabton.com - The Digital Library



نور مې انجلۍ ځان سره مخکې سیټ کې کښینوله.

او سیده مې قرغې ته بوتله، زما زړه کې دانتقام اور بل وو.

د انجلۍ څهره راباندې د یو څاوروي نه هم ډېره بده لګېده.

خو چې انتقام مې د دې ناځوانه انجلۍ نه، نه وای اخیستی.

تټر کې مې نه یخېده.

یوځل مې ورته د سر نه تر اخره پورې ښه په زور او زیر وکتل، انجلۍ راته د عاجزۍ سترګې نیولې وې.

بس شروع مې وربانده وکړه، ښه خوند مې ورنه واخیست.

بې ادبي دې معاف وي، خالي مې زنا ورسره ونه کړه.

نور مې هرډول کار ورسره وکړ.

خپلې نښی ګوتمه غاړکۍ او یو څو خطونه چې به ما پوهنتون کې ورلېږل.

هر څه مې ورنه واخیستل.

او همدلته مې د موټر نه لاندې وغورځوله.

خدای دې ما معاف کړي.

خو د ناځوانۍ بدل مې ورنه په ناځوانۍ واخیست.

د انتقام لمبې په انسان باندې هرډول ګنا کوي.

زه اوس هم په هغه کار پښیمانه یم، چې د یلدا سره مې کړی وو.

خو که په هغې وخت کې ما دا انتقام نه وای اخیستی نو امکان لري.

زه به اوس له غمه مړ وای.

ښا قومندان صاحب نوره کیسه کوه.

هر کله چې خپل اطاق ته ولاړم، غني راته ناست وو.

ketabton.com - The Digital Library


ویل یې ښه شوه چې راغلې زما مور مریضه ده د موټر کیلي راکه چې هغه روغتون ته بوځم.
کیلي مې ورکړه.
ورته مې وویل:
که زما څه حاجت وي ووایه زه به درسره ولاړ شم.
ویل یې نه مننه یارو.
تا نور په خدای سپارم.
ته کولای شې چې ننګرهار ته ولاړ شې.
خو ها ناځوانه!
یو نیم زنګ راوهه هسې نه چې هېر مو کړې، په همدې ورځ د غرمې دوه نیمې بجې وې.
موټر مې پیداکړ او حرکت مو وکړ، مخکې په لاره کې چک پواینټ وو.
هر موټر به یې ودراوه او یو یو کس به یې ښه په زیر زیر کتلو هیڅ یې غمه کې نه وم.
خو چې وروسته مې فکر وکړ.
د عسکرو سره د یلدا تصویر په لاس کې وو او زما تصویر هم ما خپل مخ پټ کړ.
هیڅا هم شکر ونه پیژندم اوپه حیا اوپرده کې لدې ځایه تېر شوم.
ټول مسافر راباندې پوه شول.
خو دانه وو، چې دوی د انسانیت نه پولیسو ته څه نه ویل، بلکې دا فارسیوانان

ketabton.com - The Digital Library



ډېر بې غیرته خلک دي.
دوی فکر کاوه، چې امکان لري دا جینۍ دې هلک وژلې وي.
اوموږ پسې وسله راونه باسي.
خو ښه وو، پوره د شپې نهه بجې ننګرهار او خپل کور ته ورسېدم.
په واده کې خو مې مور او پلار لږه خواري په ځان کړې وه، ځکه ضعف یې راته نه ښکاریده خو چې اوس مې ولیدل سخت خفه شوم.
او د خپلو والدینو په کمزوري لیدلو سره ژړا راغله.
بس نور مې ځای ننګرهار شو او هغه ارمان مې هم پوره شو، چې ننګرهار پوهنتون کې درس ووایم.
خو نه پوهیږم ولې؟
زړه مې زیات په پنجشیر پسې خپه وو.
داسې راته بریښیدله، لکه پنجشیر کې چې کوم اړین څیز رانه پاتې شوی وي...

ketabton.com - The Digital Library



***

وخت تیریده او د یار یو یو یادگار به مې ذهن ته اوریده را اوریده.

خو بس نور مې گذاره ونشوه، یوه ورځ افغانستان کرکټ میچ گټلی وو.

زه یو عسکر سره د پوستې خوا کې ولاړ وم، خلکو هوایي ډزی کولې.

ما هم د عسکر نه ټوپک واخیست او یو شاجور مې ښه مزیدار تش کړ.

بس د همغې ورځې نه مې د ټوپک سره مینه پیدا شوه او ومې غوښتل چې ملي اردو ته ولاړ شم.

دا جنگ داسې ځیز دی چې هر څوک یې کوي، هغې نه بیا د ژوندانه ټول

ketabton.com - The Digital Library



غمونه ورک شي.
او صرف بس د انسانانو د وینو تږی شي او که چیرې هر انسان د ټوپک یو شاجور هم وډزوي.
نو هغه به ضرور د جنګ مینوال شي.
ځکه که ټوپک د یو انسان سره وي نو هغه د هیڅ نه هم نه بیریږي.
او ځان ورته څلور چنده قوي ښکاري.
او دا انسان د ټوپک د شتون په حالت کې ضرور د یو انسان چې هیڅ صلاح نلري قوي دی.
هر کله چې انسان د قوت په لوري یې مخه شي، نو عادي ژوند هیڅ خوند نه ورکوي.
زه د همغې ورځې نه وروسته د ملي اردو عسکر شوم.
درې میاشتې مو کابل کې تمرین وکړ او د هغې نه وروسته یې کندز ته د جنګ لپاره ولیږلم.
زما ملګري ډیر زیات وو، خو اکثرو جنګ د دې لپاره کاوه ترڅو خپلو بچو ته یو کپ ډوډۍ پیدا کړي.
پوره شل کسیز د ښځو ډله یې هم راسره ولیږله، تر څو د جنګ په حالت کې موږ ته ضروری لوازم راورسوي.
او سربازان جنګ ته تشویق کړي.
په همدې ورځ چې موږ ورغلو، هرې خواته مړي پراته وو.
زما په شان یو نوي عسکر لپاره د دومره مړو کتل ګرانه وه.

ketabton.com - The Digital Library


خو د جذبو نارو مې روح قوي کړ.
هوايي او ځمکني عملياتو مو په دې ورځ وکړل.
خو نه پوهېږم.
چې دا طالبان ولې ماته نه خوري.
زه هغې وخت پدې نه پوهيدم چې ملي اردو ته يواځې يو سبحان راغلی.
چې د خپل ژوند نه تېر شوی دی.
خو طالبان ټول د سبحان له قومه دي.
ځکه هغوی کې يو تن هم داسې نشته چې دسر نه تېر نه وي.
لومړی به موږ ښه تيز وروان وو او طالبانو به شاته منډې وهلې، خو چې
وروسته به يې راته طياری راوپرزولې.
بيا به نو زموږ مرال خراب شو.
داسې يو ساعت ښه په ډاډه زړه وجنګېدم.
خو د يو ساعت نه وروسته چې مې وکتل موږ پوره څلور تنه ژوندي پاتې وو او
جنګېدو.
بس مرال مو خراب شو.
او د جګړې له ډګر څخه په شا شولو، تر ډېره حده ولاړم.
خو د لرې ځايه نه پوهېږم، کوم سنيپرچي وو يا طالب پدې پښه يې وويشتم.
سر را باندی وګرځيد، سترګو مې تور وخوړ.
په همدې وخت کې يوه ښکلی انجلۍ راغله، سمه د جنت حوره معلوميده، زه
يې په غيږه کی وچت کړم او سيده يې چورلکې ته ورسولم.
په نور حالت زه هم خبر نه شوم.

ketabton.com - The Digital Library


ځکه زه بې هوښه شوی وم.

خو چې راویخ شوم.

په یو روغتون کې پروت وم.

په پښه یې په پسته کې د شرم ګا نه لاندې ویشتی وم.

پرتوګ یې راته شکولی وو.

سخت وشرمېدم.

ما ویل هسې نه اوس څوک رانشي خو ښه وو سرته مې یو شنه روجایي پرته وه.

هغه مې په ځان اواره کړه.

دا وخت نرسه راننوته.

زما د احوال پوښتنه یې وکړه.

ما ورته وویل:

شکر دی اوس خو جوړ یم.

خو هغه انجلۍ چې زه یې د جنګ په وخت کې وژغورلم هغه څوک وه؟

ویل یې ګوره عسکره دا عسکرې د همدې لپاره حکومت موضف کړې.

تر څو د ټپیانو مرسته وکړي.

ما ورته وویل:

ښه ښه.

خو هغه به اوس چیرته پیدا شي؟

ویل یې هغه راغله همدا تا سره راغله ته یې تر روغتونه را ورسولې.

ketabton.com - The Digital Library


اوس هم امکان لري بیرون چیرته ناسته وي.

ما ډیره خواري وکړه تر څو له خپله ځایه پورته شم.

خو نه کېده.

هغې انجلۍ نو زما زړه یوړ.

په دوه ورځو کې لږ څه را جوړ شوم، او دومره شوم چې په امسا وګرځم.

همداسې په قلار قلار ښه کېدم.

او چې څومره به ښه کیدم، د هغې ښکلې انجلۍ بیا ځل لیدلو ته به مې تلوسه ډیرېده.

بس ډېر ژر په خپلو پښو ودرېدم.

خو مات مات به تلم ډاکټر راته وویل: چې وګرځېږې انشالله پښه به دې رکه روغه شي.

او نور یې له روغتون څخه رخصت کړم.

زه په هغې انجلۍ پسې ډیر وګرځېدم خو هغه مې پیدا نکړه.

تکل مې وکړ چې یو ځل بیا کندز ته ځم، امکان لري هلته یې پیدا کړم.

خو چې پوښتنه مې یې وکړه.

انجلۍ کندز کې طالبانو نیولې وه.

د هغې وخت مفکوره دا وه، چې طالبان کومه انجلۍ ونیسي، نو هر ډول ناوړه چلند ورسره کوي.

ځکه نو ما مخه کړه، تر څو هغه انجلۍ آزاده کړم.

خو دا هر څه په یو لوی فکر کېده.

ketabton.com - The Digital Library


ما ټوله طرحه برابره کړه.
په عادي جامو کې طالبانو ته ورغلم ورته ومې ویل:
چې زه غواړم تاسې سره دلته دنده ترسره کړم.
خو ویې نه منله.
هغوی ویل: تا باید موږ ته د کلي او ګاونډ کومه مدرسه را معرفي کړي.
بیابه زموږ عسکر شې.
د همدې لپاره مې کندز کې مدرسه شروع کړه.
اووه اته ورځې مدرسه کې وم.
خو بس وروسته مدرسه کې د جهاد خبرې شروع شوې.
زما هیڅ فکر نه وو چې دوی به د افغانستان مدرسو کې هم خلک جنګ ته تشویقوي.
دې ځای کې نو ملا صاحبانو داسې خبرې کولی چې زما یې هم په روح اغیزه وکړه.
هغه عسکر چې ټول عمر ورته تدریس شوی.
چې د هغې په روح باندې داسې خبرې اغېزه کوي، نو نوی ماشوم خو سیده جنګ ته بوځي.
اوس نو پوه شوم چې دا دومره طالبان څنګه د سر نه تېر دي.
د اوو ورځو وروسته زه هم مدرسې طالبانو ته ورمعرفي کړم.
خو د هغوی استخبارات ډیر تېز وو.
د یو یو عسکر نوم یې لیکلی وو کمپیوټر کې زما نوم یې پکې سرچ کړ.

ketabton.com - The Digital Library



ما ښه وو نوم بدل کړی وو.

زما اصلي نوم سبحان ندي، زما اصلي نوم میرویس دی.

خو د سبحان نوم مې تر اوسه ځکه یادوه، چې د دې پوستې عسکر مې په سبحان پیژني.

او هم د یلدا په وخت کې زما نوم میرویس وو خو ما ځکه تر اوسه خپل نوم سبحان یادوه.

چې تاسې په قیصه کې ګډ وډ نشی.

دا وخت نعیم چغه کړه خا نو قومندان صاحب ستا اصلي نوم میرویس دی.

قومندان صاحب وویل: هو زما اصلي نوم میرویس دی.

خو په هغې ځای کې مې نوم بدل کړ او په سبحان بدل شوم.

زما نوم هیڅ د عسکرو په لیست کې راونه ووت.

دا چې ما تعلیم کړی وو.

او په ډیر څه پوهیدم نو د ټولو....

ketabton.com - The Digital Library


***

او هم د یلدا په وخت کې زما نوم میرویس وو، خو ما ځکه تر اوسه خپل نوم سبحان یاداوه.
چی تاسې په قیصه کې ګډ وډ نشئ.
دا وخت نعیم چیغه کړه خا نو قومندان صاحب ستا اصلي نوم میرویس دی؟
قومندان صاحب وویل:

هو زما اصلي نوم میرویس دی، خو په هغه ځای کې مې نوم بدل کړ .
او په سبحان بدل شوم.
زما نوم هیڅ د عسکرو په لیست کې راونه ووت .

ketabton.com - The Digital Library


دا چې ما تعلیم کړی وو او په ډېر څه پوهیدم، نو د ټولو بند خونو سیستم یې ماته راوسپاره.
او ویل یې:

که یو بندي هم وواته، نو بیا دې خیر نشته، ما خو غوښتل چې ټول لدې ځایه وباسم.
مګر د دوی امنیت د کابل نه ډېر وو.
او که چا به لږ هم ځان خوځاوه، نو بس د کېمرو ښکار به وو.
یو څه وخت وروسته مې یو نفر ته وویل:

چې د ټولو بندیانو عسکونه واخله او بیا راشه.
ریشتیا هم د ټولو عکسونه یې اخیستي وو، ما یو یو چک کاوه.
اکثر مې پکی ملګري وو.
خو بس مجبوري دا وه، چې دا ټول مې لدې ځایه نه شول وباسلی.
خو بیا ښه وو، یو کس راته وویل:

چې دا نفر که ورته قسم وخوري چې بیا اردو ته نه ځو نو خوشې کویي یې.
خو یوه میاشت به دلته ضرور د دوی سره بند نور هم تېروي.
ما په تصویرونو کې خپل هدف پیدا کړ.
هغه انجلۍ په تتو زیړو جامو کې ناسته دیوال ته یې تکیه کړې وه.
سترګې یې پټې وې فکر کووم ویده به وه.
عسکرو ته مې وویل:

ketabton.com - The Digital Library



دا انجلۍ چې په تصویر کې ویده ده، دغه دلته راولۍ زه ورسره کار لرم.
عسکر ووتل او په څو شیبو کې یې انجلۍ د ویښتانو نه نیولې، پداسې حال کې چې له پوزې نه یې وینې بهیدلې دننه راوستله.
جینۍ چې زه ولیدم، هک حیرانه شوه.
زه یې بس د تکو تورو اوږدو زلفو په ننداره وم، پړونی یې د جالۍ وو.
خپل عسکرو ته مې وویل:

بهر ووځئ.
انجلۍ مې ځانته مخامخ کښېنوله.
یو څه شیبه زما او د هغې ترمنځ خاموشي خوره وه.
ما ورته وویل: خبره یې؟
ویل یې په څه؟

ما ورته وویل:

د کومې ورځې نه مې چې لیدلې یې.
د هغې نه وروسته مې د ژوند لوی هدف همدا ته یې!
زه ستا لپاره دا دی د مرگ په خوله کې ولاړ یم او همدا مې لوی ارمان و چې تا لدې ځایه وباسم.
ته خبره یې زه دلته صرف ستا لپاره راغلی یم.
ویل یې:

ketabton.com - The Digital Library



خیر دی ځوانه لدې ځایه نه مې وباسه زه لدوی نه سخته ډارېږم.
هسې نه عزت ته مو کومه صدمه ونه رسوي.
ما ورته وویل:

لږه سږه خوره د ماسپښین لمونځ وخت کې دا نفر ټول د جمعې لمانځه ته ځي، ما او تا به لدې ځایه ولاړ شو.
ویل یې درسره مې خوښه ده.
تر ماسپښینه پورې دوه ساعته وخت وو.
پدې دوه ساعتو کې مې د انجلۍ د ښایست په لیدلو ښه سر تر پایه پورې ځان موړ کړ.
دانجلۍ نوم نیلاب وو.
میرویس او نیلاب د ماسپښین د جمعې په وخت کې دوه خپلې کړې او دوه پردۍ کړې.
او له هغې ځایه را ووتلؤ، زما او د نیلاب مینه له همدې ځایه پیل شوه.
او د دې نه ورسته به هر وخت د جنګ په ډګر کې یو ځای جنګېدؤ.
بس ما سره چې به په جنګ کې نیلاب وه، ما به په هغه جنګ کې ماتی نه خوړه.
یوه ورځ مو شدید جنګ وکړ دښمن مو شاته کړ او موږ ورپسی وو تر ډیره حده ورپسی ورغلو.
خو یو دم د طیارو غړمبار شو.
او همدا بمونه شو زما صرف یو ملګری ژوندی پاتې شو.

ketabton.com - The Digital Library



نور ټول همدې پدر لعنتو امریکایانو بمبار کړل.

ما پروت وکړ، د هر طرف نه مې د وژل شوو ملګرو زګیروي اسمان ته پورته کیدل.

ډیر دردونکې زګیروي یې کول، ژړا نو د بې وسۍ ژړا هلته وه.

که چیرته طالبانو راته ملګري وژلي وای، بیا هم پرې دومره نه خفه کیدم، خو خپلو خلکو را سره ناځواني وکړه.

طیارې ورکې شوې، لوخړې پورته شوې، چې ومې لیدل ټولو ملګرو مې ساه ورکړې وه.

یو زه او یو بل ملګری مې ژوندي پاتې وو.

دا وخت مې مخابرې ته د درد نه ډک اواز راغی په دردونکي غږ یې ویل

میرویسه!

میرویسه!

اورې؟

څه نیلاب ووایه، څه شوي، صبر زه قرارګاه ته درځم.

په منډه منډه مې قرار ګاه ته ځان ورساوه.

چې ومې لیدل...

ketabton.com - The Digital Library


***

چې ومې لیدل.

نیلاب په سرو وینو کې لته پته پرته وه.

د قرارګاه یو ملګرۍ مو هم ژوندی پاتې نه وو، دې ظالمانو زما ټول ملګري وژلي وو.

الوتکې دلته لا ګرځیدلې او د تېښتې په حال کې وې.

ماته دله همغه وخت نه دا معلومه شوه، چې دا ظالیمان هیڅ زموږ د ګټې لپاره ندي راغلي، بلکې برعکس راته تاوان اړوي.

ما سره نور بله لاره نه وه یو غټ توغندی مې اوږې ته پورته کړ.

دا لوتکې په لور مې یو توغندی وار کړ.

یوه خو مې پکې وویشته خو نور رانه لار ورکه شوه.

هغوی نو ډزې شروع کړې.

دا وخت راته یو نفر چغه کړه میرویسه دلته راشه ښه وو قرار ګاه نه بیرون د لوړې تیږې لاندې خالي ګاه وه.

نیلاب مې غیږ کې اوچته کړه.

او د همغې تیږې لاندې مې ورتیره کړه.

زه چې ورتیږیدم دا وخت سخت په پښه ولګیدم.

بس ځان مې قابو کړ.

ketabton.com - The Digital Library


او تر پنځلس دقیقې الوتکو خپل توغندي اوبمونه را وارول،
ډزې هر څه ورسره مله وو.
هر کله چې الوتکې ولاړې، ما او پاتې درې عسکر له خپلو ځایونو را ووتؤ.
نیلاب هم لکه زما په څېر په پښه لګیدلي وه، خو هغې یې تاب نشو وړلای.
او د درد نه ډک زګیروي یې کول.
ما فکر وکړ ښا چې اوس چیرته ولاړ شو زموږ خو همدا یوه قرارګا وه دا یې هم راته رنګه کړه.
د مرکز سره مې د مخابرې له لارې اړیکه ونیوله او د ټپي په باره کې مې ورته وویل:

خو ویل یې چې پوره په نیم ساعت کې به چورلکه در ورسیږي.
موږ پوره درې ساعته ورته ماتل شو.
خو چورلکه رانغله، د نیلاب حالت ثانیه پر ثانیه خرابیده.
اخیر یې راته وویل:

میرویسه دلته شاوخوا چیرته وګوره کوم کلی به وي.
زه نوره مړه کیږم ما شاوخوا ډیر وکتل خو یوځای لیرې ونې ښکاریدې نیلاب مې په اوږه واچوله او ورپسې روان شوم.
هغه یو تن عسکر ته مې وویل چې چورلکې راغلی بیا یو کس راپسې ضرور راولیګه.
ههسې خو ما په همدې ورځ قسم وکړ چې خدای مې دې یو ځل کابل ته بوځي، بیا به د مرګ په حالت کې هم دلته رانشم خو چې یو ځل کابل ته پخیر

ketabton.com - The Digital Library


ولاړ شم.
زه او نیلاب یو ښکلي او د منظرو نه ډک کلی ته ورسیدو، ما نیلاب په شا کړې وه.

کلي ته ورننوتم پدې ځای کې نه هم د کوم کور د ماشومانو اواز وو.

او نه هم کوم کور کې میلمانه وو، چې د کور د بام نه یې لوګی پورته شوی وای، نه یې هم څارونکي لرل او نه یې هم اوسیدونکي.
زما خو د عسکرو جامې په تن وې، د لیرې ځای نه راباندې غږ وشو ځوانه لاسونه پورته که او انجلۍ لاندې کوزه که.

چې ومې لیدل طالبان وو.

زه او نیلاب یې همدلته بندي کړو، نیلاب یې د همدې ځای روغتون ته بوتله او زه یې په بندخونه کې درې ورځې وساتلم سترګې مې پټې وې.
یو وخت کی مې د چای خوړ خوړ تر غوږه شو.

ما غږ وکړ ورور جانه.
ویې ویل:

ها ته پښتون یې؟

ما ورته وویل: هو وروره پښتون یم د ننګرهار یم.
ویل یې زه چې پښتون یې انشاءالله دوی دې خوشي کوي.
خو که فارسیوان وای بیا یې نیولې یو څه شیبه ووتله څو تنه عسکر راغلل تت تت راته په توره جاله یې ټوټه کې معلومیدل.

ketabton.com - The Digital Library


تکې تورې لونګۍ یې وهلی وې او غټې غټې څڼې یې درلودې.
تر دې وخته نه هم زما څڼې وې، نه هم بریتونه او نه هم ږیره، خو ما چې دوی وکتل بیل خوند یې راکړ.
یوې بندي خونې ته یې بوتلم زما د سر نه یې توره ټوټه لرې کړه.
یو نفر چې ګڼه توره ږیره یې وه او توره لونګۍ یې وهلې وه.
ماته مخامخ په توشک ناست وو.

ویل یې:

که قسم راته خورې چې بیا ملي اردو ته نه ځم.

نو پریږدم دې کنه بیا دې همدا بند مبارک شه.

او ها دا خبره خاص ستا لپاره څکه چې ما او تا په یوه ژبه غږیږو.
ما ورته وویل:

وروره زه دلته د مرستې غوښتلو لپاره راغلی وم.

او زما نیلاب سخته د درد په حالت کې وه، د هغې دردناک زګیروي، به زما اوس هم له یاده ونه وځي.
د خدای لپاره زما نیلاب ماته راکړئ، زه به نور په ژوند کې هم ملي اردو ته ولاړ نشم.
راته یې ویل:

نیلاب میلاب موږ نه پیژنو هغه د امریکایانو نماینده وه.

موږ ووژله او دا یې د خښیدلو د وخت تصویر تر څو زړه دې ورنه صبر شي.

ketabton.com - The Digital Library


او نور دې دلته ونه وینم، سیده دې ځان ننګرهار ته رسوه.
ما ورته ډیر وویل:

چې قبر خو یې راوښایی خو قبر یې ماته تر اوسه ندی معلوم.
ماسره بله لاره نه وه، د هماغې ورځې نه دخپلو زړو ملګرو د طالبانو قطعاتو ته ولاړم.
هغوی را باندې هیڅ شک ونکړ.
خالي همدومره یې وپوښتل چې دا دومره وخت چیرې وې او هغه انجلۍ چې دې بوتله څه دې کړه.
ما ورته وویل:

زه خو ننګرهار ته تللی وم.

او هغه انجلۍ مې هماغه وخت ووژله ځکه چی د امریکایانو جاسوسه وه، نور نو دوی په ما باور نکاوه ځکه به یې خالي د جنګ لپاره ساتلی وم.
اکثر وخت به د جنګ په لومړۍ لیکه کې جنګیدم.
یو وخت زموږ ډلې ته ډیر زیات ځوانان راغلل.
د ورځې به مو پوستو کې پوره پنځوس شپیته نفره نوي نوي لیدل کیدل.....

***

زموږ پوسته ډیره قوي شوه، همداسې ټولو پوستو ته د مشرانو لخوا د سخت

ketabton.com - The Digital Library


جنګ امر وشو.

او ويې ويل:

يوه پوسته هم مه پرېږدۍ او که څوک تسليم شول کار پرې مه لرۍ، هيڅ چاته د دې حق نشته چې تسليم شوي نفر باندې ډز وکړي.

او د عسکرو منځ کې يو ډول غوغا خپره شوه، چې ان شا الله اووه ورځې نورې د امريکا پاتې دي.

اونور به يې ان شاالله يو عسکر هم دلته ژوندی پاتې نشي.

د دې غوغا خبر فکر کوم د افغانستان هر عسکر او د هرې قرارګاه مشر ته ورسېد.

څکه نو د کندوز ولايت عسکرو خپل مرال بايللی وو او لکه د پخوا پخېر يې جنګ نه کاوه.

د افغانستان مشرانو هم عسکرو ته ويلي وو، چې په قلار قلار يو يو ولايت ورپرېږدئ، موږ ته ويل شوی وو.

چې تاسې ته به موږ امر کوو او هغې نه وروسته به په پوستو ورځئ.

ريشتيا هم دوه ورځو کې اووه ولايتونه سقوط شول، او د امارت ټول عسکر زموږ ولايت ته راغلل، دا ځل نو جنګ وشو.

لکه د پخوا پشان لوبې نه وی هر رقم الوتکې راغلی خو زموږ عسکر لکه د ميږيانو په څېر زيات وو.

ketabton.com - The Digital Library



او هرې خوانه به الوتکې هم په توغنديو لګيدې زما ښه يادېږي، د الوتکو د طالب په عسکرو وس ونه رسيد.

او وړاندې يې چيرته په مظلومو انسانانو بمباري وکړه، دا ولايت هم په همدې ورځ سقوت شو، موږ سوق شو بل ولايت کندهار ته خو هلته موټوله ورځ جګړه وکړه ډير ملګري مو شهيدان شول او بلاخره هغه ولايت هم سقوط شو لنډه دا چې ټول افغانستان په لنډ وخت کې سقوط وکړ.
دا چې زما کور ننګرهار کې وو نو زه يې ننګرهار ته راولېږلم، خو ماته هيڅ معلومات نه وو.

چې زما مظلومه پلار هم په ننګرهار کې ددې ظالمه امريکايانو نه پاتې نه وو، دلته يې زما پلار راته وژلی وو.

زما ټول ژوند دغه پوسته شوه او د هغې نه وروسته د درونټې په دغه پوسته کې شپې او ورځې سبا کوم.

زما خفګان زما پلار ته دی او زما خفګان زما نيلاب ته دی، زه په ژوند کې اوس داسې هيڅ اسره نلرم چې ورشم او پکې مړ شم.
ما اول جنګ ددې لپاره کاوه چې يلدا هېره کړ،م خو وروسته مې د نيلاب د هېرولو لپاره جنګ شروع کړ.

خو هغوی دواړه زما اوس هم يادېږی د هغوی زخم مې لا جوړ نه وو چې دې ظالمانو راته پلار هم په حق ورساوه.

ketabton.com - The Digital Library



دا وخت نو پدې پوسته کې داسې څوک نه وو، چې د سترګو نه يې مړی اوښکې رواني نه وي.

زما په شمول د ټولو تر سترګو په خاموشه خاموشۍ کې اوښکې بهېدلې، ما خپل موبايل خلاص کړ.

تر څو د ميرويس نيلاب او يلدا نوم ځان سره نوټ کړم او يو ښکلی ناول پرې وليکم.

دا وخت مې ذهن تا يو سوچ راغی، چې ته راځه د نيلاب او يلدانوم نيټ کې ورکه امکان لري، څه معلومات يې راووځي.

هر کله چې مې فيسبوک کې سرچ کړل، يلدا نو هيڅ ايډی رانغله.

ما د قومندان نه پوښتنه وکړه د يلدا پوره نوم څه وو؟

ويل يې:

پوره نوم خو يې يلدا وو.

خو هغې ته به زموږ نورو صنفيانو حکيمي هم ويلی، ما وليکل يلدا حکيمی!

اول سر کې ديو انجلی تصوير راغی.

قومندان چې وليدله، ويې ويل:

هو همدغه وه، هغه ناځوانه انجلۍ چې زماسره يې ناځواني وکړه.

ketabton.com - The Digital Library


او په نیمه لار کې یې پرېښی وم، جینۍ چې مې ولیدله هک حیران شوم چې داسې ښکلی انجلی او داسې طالب جان سره مینه خو بس د هر چا خپل قسمت وي نو!

بیا مې نیلاب سرچ کړه لاندې نومونو کې مې ولټوله، په اخر کې د یو انجلۍ عکس وو.

د پولیسو خولي یې پر سر وه، سره غومبوري او نرۍ تکه سره پوزه یې درلوده ایډی مې یې خلاصه کړه.
لیکنی یې ټولې په انګلیسي ژبه کړې وې، د پښتو ژبې هیڅ هم پکې نه وو، خو انګلیسي کې یې هم د فند نه ډکې جملې لیکلي وې.
زما یو دم پام شو، د انجلی په صفحه شنه علامه لګیدلی وه.

مطلب انجلۍ انلاین وه.

ما چې قومندان ته وویل:

د هغه باور نه راته او راته یې وویل خیر دی ځوانه ته څه چل وکه ما ورسره وغږوه!

ما همدې وخت کې د قومندان نه یو عکس واخیست.

او ور ومې لېږه شیبه نه وه، تیره شوې چې د سلام مسیج ځواب راغی.

ویل یې:

ته څوک یې؟

ketabton.com - The Digital Library



او دا میرویس له کومه پیژنې؟

ما ورته ولیکل زه د میرویس ملګری یم، میرویس هم دلته اوس دستي راته ستا ټوله کیسه تېره کړه.

او سخت یې ودردولم، ویل یې میرویس اوس چیرته دی؟

ورته ووایه:

چې زه کابل کې یم او غواړم له تاسره ووینم.

ما ورته ولیکل سمه ده، خو میرویس غواړي تر څو تاسې سره مخامخ په ویډیو کال کې خبری وکړي.

ویل یی ولی نه هر کله چې زنګ رخ شو، د میرویس د سترګو نه اوښکې روانې شوې، بې حسابه سلګۍ یې وهلې، ویل یې:

بند که بند که ژبه یی بنده بنده کېدله په ټوخو پیل شو.

نعیم ورته اوبه راوړې.

اوبه یې وڅښلې بیا یې د هغې انجلۍ سره خبرې وکړې قومندان صاحب ټوله کیسه کې خپله ونه ژړل.

خو ددې انجلۍ په کتلو سره یې له سترګو څخه بې واره اوښکی لاړې.

ماته یې وویل:

ځوانه زه ستا دا احسان په ټول ژوند کې هم نشم هیرولای، په جیب کې ورسره یو دانه د سرو زرو امیل وو، هغه یې راوباسه.

ketabton.com - The Digital Library


او ماته يې وويل:

وراره دا ستا انعام!

چې ساعت يې وکوت د سهار څلور بجې وې قومندان وويل:

راځئ چې لمونځ وکړو لمونځ مو وکړ.

دعا مو له خدايه وغوښته پوره اتو بجو وخت کې قومندان صاحب کابل ته پخير حرکت وکړ، او موږ خپل ننګرهار ښار ته راروان شو...

پای....

بله برخه څلور کاله وروسته....

ketabton.com - The Digital Library


# دوهمه برخه

ketabton.com - The Digital Library



خوب مې لیده، چې سلیمان له ډېر غټ ګړنګ څخه راوغورځېږي.

یو دم راپاڅېدم، سلیمان مې په خوا کې بیده وو، په مخ مې کرښې کرښې د ویرې خولې روانې وې.

په سلیمان مې توره روجایې خپله هواره کړه، زه ترې بهر ته راووتم.

سخته ژړا راغله، په سلګو سلګو مې وژړل، زه د خپل خوب په تعبیر له اول سر نه ورسېدم.

ټوله شپه خوب رانغی، او د ویرې ډېر زور راباندې وو.

د شپې یو مهال ناوخته په خپلو سلګیو کې ډوب ویده شوی وم.

په سهار کې سلیمان وخوځولم، سترګې چې مې خلاصې کړې، لمر راختلو ته نږدې وو.

ژر ژر مې اودس او لمونځ وکړل، دا وخت زنګ راغی.

اوکی مې کړ.

قومندان وو.

ویل یې:

ستاسې کاري ټیم باید د شمال طرف ته ولاړ شي.

موږ هم ولاړو، موږ سره سلیمان هم وو، نورو هلکانو ته مې وویل:

تاسې په پښو ولاړ شئ.

ketabton.com - The Digital Library



ما او سليمان وروسته درځو، سليمان ته مې د غزني په ښار کې ښه ډېر چکرونه ورکړل.

ښه ډېر مې خوشحاله کړ، بيا مې ورڅخه وپوښتل:

سليمانه!

که مړ شې، اوس به پخپل مرگ راضي واوسې؟

آيا!

څه تياری ورته لرې، او کنه؟

سليمان وويل:

هو شکر قومندان صاحب!

ما ورته وويل:

بس خدای دې تاته ډېر عمر درکړي.

تر يو څه چکر ورکولو وروسته مې سليمان کاري ځای ته بوته.

زموږ کار ماين پاکي وه، او هره ورځ به مو ملگرو زموږ مخکې ساگانې ورکولې.

هر کله چې کاري ځای ته ورسېدو، نو سليمان مې په موټر کې بند کړ.

ښيښه يې ډيره وډبوله.

خو دروازه مې ورته خلاصه نگړه.

ketabton.com - The Digital Library


زه د کار ځای ته روان شوم، تر نیم ساعت وروسته خپل کاري ځای ته ورسېدم.

ومې لیدل، چې سلیمان تر ما مخکې کاري ځای ته رسېدلی دی.

زه هک هیران شوم، پوښتنه مې ترې وکړه، ته له موټر څخه ځنګه راکیوتې؟

ویل یې:

بس قومندان صاحب!

زړه مې طاقت ونکړ، دروازه مې ماته کړه.

او راغلم، دا چې زما به اکثر وخت د کار ځای ته هیڅ تادي نه وه.

نو ځکه نن هم په کلار کلار راغلم.

دا وخت هلکان ګرځېدل، چې په یو داسې ځای وربرابر شو، چې ماشینونو بار بار اوازونه کول.

دا یو کمپیوټري ماین وو، چې داسې جوړ شوی وو:

پدې ماین کې داسې اله نسب شوې وه، چې د ډېرو انسانانو په شور به یې انفجار کاوه.

مطلب موږ کم وو، ټول څلور پنځه نفره خو دې ماین به داسې د ډیرو کسانو د خپو آواز اوریدلو سره انفجار کاوه.

ketabton.com - The Digital Library



په هر حال د ماین غوځونکی زموږ په ډله کې سلیمان وو، بل هیڅوک هم نه وو.

سلیمان بغیر له پښتنې ماین ته ورمنډه کړه، او د خپل ځواني غرور له اړخه يې د لینونو په غوځولو پیل وکړ.

چې یو دم کړنگ شو، موږ ته لارښوونه شوې وه، چې د ماین الوتلو پر وخت باید پروت وکړو.

زکه نو پریوتو.

ما فکر کاوه، لکه مړ یم، مگر یو وخت مې د قوي ټیم ټنگ ټنگ تر غوږه شو.

سر مې راپورته کړ، د غره پر سر د ماین تش کارتوس دومره وو، لکه یو الټو موټر او د غره څخه لاندې رااوان وو.

او ټنگ ټنگ يې کاوه.

تورې لوخړې پورته شوې، زما خوب ریښتیا شو، او د غزني چکر او یو څو دقیقي آرامي د سلیمان د ژوند تر ټولو آخري آرامتیا شوه.

د سلیمان د جسد یو هډوکی مو هم پیدا نکړ، تر څو د هغه کور ته يې یوسو.

سلیمان چې زما ډیر کلک ملگری وو، په همدغه ورځ مو له لاسه ورکړ، نور ملگري همالته په کار بوخت وو، زما طبیعت خراب شو.

ketabton.com - The Digital Library


نیمه شپه وه، د سلیمان تش ځای سخت زیات وژړولم.

راپاڅېدم، او په همدې نیمه شپه مې هوالدار خان میر ته وویل:

چې وروره زه ولاړم، هغه راته ډېر ټینګار وکړ، مګر زه ترې راووتم، په تور فلډر کې روان وم.

یو وخت باران هم شروع شو، د شپې یوه بجه به وه، سرک هم طبیعي بادونو ښه سم صفا کړی وو.

شاوخوا د شولو پټي وو، ماته د خپل یار سلیمان یوه یوه خبره رایادېدله.

او د هغې په هره خبره به مې زړه خوړ، یو وخت تشو بولو ونیوم، له موټره راکیوتم.

خپل ضرورت مې رفع کړ.

هر کله چې بېرته موټر ته وروختم، نو موټر یو څه درونډ وو.

په هاغومره پښه ورکولو نه ته، لکه څومره چې مې مخکې ورکوله، بس یو رقم مې موټر روان کړ.

تر یو څه مزل کولو وروسته مې یو څه پس پس هم تر غوږه شول.

د ویرې ماحول په جامو کې ځای نه راکاوه، بس هڅې مې له ځان سره وویل:

چې تر هر ځای پورې ځئ، رسوم مو مګر ما سره به کار نلرئ.

ketabton.com - The Digital Library


د یو څه وخت وروسته راته یو لوی کلي پر مخ راغی، مخې ته مې یو څه کوچیان ودریدل.

ویل یې:

راځئ دلته شپه تېره کړئ، بیا به ځئ زه ورکېوتم.

خیمې یې وهلې وې، او د هرې خیمې مخې ته یو څه اور لګیدلی وو.

یو څه ها خوا ترې بیا څاروي ولاړ وو.

ښکلی ځای وو، ماته هم خوب راغلی وو، بس دوی چې کوم ځای راخودلی وو.

همالته ویده شوم، یو وخت مې د مخ پوستکی لمر وسوځاوه، چې راپاڅېدم.چو

نه هم کومه خیمه وه، او نه هم کوم بل څه وو.

زما سر ته هم تیږه ایښې وه، خو ښه وو، موټر مې پخپل ځای ولاړ وو.

زه تر اوسه نه یم پوه شوی چې هاغه څه کیسه وه، مګر په هر حال زه بیا هم خپل موټر ته کښېناستم.

او یو ځل بیا مې حرکت پیل کړ.

تر یو څه مزل وروسته کابل ته راورسېدم، د کابل په آرزان قیمت کې راته زما خوږ ملګری ساحل د اول نه ناست وو.

روغبړ مو سره وکړ، خپل اطاق ته یې بوتلم، یو څه آرام مې وکړ.

ketabton.com - The Digital Library


په ماښام مهال کې له اطاق څخه راووتؤ.

ساحل هم د ننګرهار وو، او لکه زما په څېر هغه هم مسافر وو.

په کابل کې يې يو نامتو هوټل ته بوتلم، يخه يخني وه.

موټر مو د هوټل څخه بهر د موټرونو په تم ځای کې ودراوه.

ما سره داسې څه نه وو، چې د يخنۍ مشکل پرې حل کړم.

په هر حال يو وخت مې د موټر شاتنۍ برخه کې يو پټؤ اچولی وو.

اوس چې مې ولید، هماغسې لا ایښی وو.

پټؤ مې له موټر څخه راښکته کړ، او له ځانه مې تاو کړ.

سخت يخ باد وو، او د ونو زيړې شوې وچې پاڼې يې په هوا کې تاوولې.

دې هوټل درې څلور منزله درلودل، او موږ يې هم په دريم منزل کې د خوراک لپاره کښينستلؤ.

يو څه تروه کباب او د قهوې پیشنهاد يې ورکړ.

کباب يې تازه پاخه کړل، پدې يخه هوا کې ورڅخه دود خاته.

او ګرمه قهوه يې هم راوړه.

په کبانو مو لږ څه ليمو وزبيخه، لدې ځايه د کابل ښار او د ټولو کورونو له کوره بيرون لږيدلي څراغونه ښکاريدل.

ketabton.com - The Digital Library


نه پوهېږم، خو ډاکټران وايي، په داسې يو ځای کې چې ستاسې ذهن آرامه وي، تاسې به ډوډۍ هم ډېره وخورئ.

او هاضمه به مو ډير ښه کار وکړي.

په هر حال شپه وه، دا شپه مې له ملګري سره په کابل کې تېره کړه.

او په سبا ترې زه د ننګرهار پر لور راوخوځېدم، تور فلډر کې ښه وو،

هوا هم ښه وه.

او بخارۍ مې هم پکې لګولې وه.

شکر ښه په آرامه آرامۍ سره په ماهيپر راکېوتم.

يو ځل بيا راته سليمان راياد شو، سليمان د غزني ولايت وو.

فکر ته مې هغې راغلل، چې کورنۍ ته به يې څوک ورغلي وي او کنه.

موټر مې يوې غاړې ته ودراوه، او خپل ټيم ته مې زنګ وواهه.

هغوی وويل:

چې مشرانو ته يې دا مسؤليت سپارلی، ځکه په ټيم کې هيچا هم نشول کولای چې د يو مړي کورنۍ ته ووايي:

چې ستاسې هغه نيازبين ځوی چې تاسې ډير په مينه مينه رالوی کړی وو.

هغه نيازبين ځوی مو خپل روح د وطن په دفاع کې حق ته وسپاره.

ketabton.com - The Digital Library



او موږ سره يې اوس هيڅ هڅوکی هم نشته.

په هر حال يو ځل بيا مې موټر چالان کړ، او په ډېر لږ وخت کې ننګرهار ته راورسېدم.

کور ته راغلم، نيلاب او بچو سره مې روغبړ وکړ.

کشر ځوی مې راته وويل:

بابا ماته يو ځو روپۍ پکار دي.

زما په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې، هڅې خداوندي مې زړه ته ګيله ودرېده.

نيلاب راته وويل:

خير دی هلکان دي، يو څه ورکه پکار به يې وي.

ته خو هڅې هم بيرون هر ډول مستي په پيسو کوې، او د خپلو زامنو او ماشومانو هيڅ کيسه کې نه يې.

هلکانو ته مې په بنده خوله پيسې ورکړې، او د خپلې ګيلې اظهار مې هيڅ چاته هم کولای نشو.

يو څه وخت وروسته مې کور ته مور راغله، مور مې د کشر ورور سره اوسېده.

کوم لمسي به ورته زما د راتګ ويلي وو.

ketabton.com - The Digital Library


ځکه يې نو ځان راورساوه، زه هم ورپسې ورکيوتم، او له لاسه مې ونيوه.

خوا کې راسره کښيناستله، راته يې وويل:

ځويه!

څه خبره ده، خفه ښکارې.

ورته مې وويل:

ابۍ!

دا ژوند څومره سخت دی، ته به د خپلو بچو او هيواد لپاره ځان قربانوې، مگر دوی به وايي، چې مزې دې وکړې.

مور مې راته وويل:

خير دی بچيه!

ځان پرې کوڼ کړه، ژوند خو که سخت نه وای، پيل به يې په ژړا نه کېده.

له مور څخه مې لاسونه تاو کړل، او په ژړغوني غږ مې ورته وويل:

خير دی ابۍ!

دا ژوند ډېر سخت دی، ما دې سخت ژوند ته هيڅکله هم يوازې مه پرېږده.

ketabton.com - The Digital Library



له جیبه مې یو سل ګون نوټ راوویست، ابۍ ته مې ونیو، نیلاب رامخته شوه.

ویل یې:

ولې ستا د مور نه لکه دا بچي ډیر مهم وو.

هغوی ته دې پنځه پنځه سوه افغانۍ ورکړې، او مور ته دې له جیبه خالي د سلو نوټ راوباسه.

پوره پنځه سوه مور ته هم ورکړه.

خو مور مې ورته وویل:

د خاوند مخ کې څوک بې ادبي نکوي، ګناهګاریږې.

زما مور واقعاً چې زما په کور کې له حورې څخه کمه نه وه.

ما ورته وویل:

بس مورې همدلته اوسیږه، خیر دی، زموږ ماشومان به هم درسره خوشحاله وي.

او ته به هم یو څه راحت وې.

خو ویې ویل:

نه بچیه! تاسې سره ډیره واوسیدم، تاسې اوس یو ځای ته ورسیدئ، هغه کشر ورور دې هم باید یوځای ته ورسیږي.

ketabton.com - The Digital Library


بیا به راشم.

مور مې ولاړه.

مګر هغه پوهانو ښه ویلي دي، چې د مور په څېر ډاکټر په هیڅ ځای کې هم نشته.

چې په خپلو دوه درې خبرو سره دې رغوي.

ورځ په کلار کلار خپل ځای شپې ته پرېـــــــخود.

او مورې هم د خوب لپاره پریوتلو، تر څو خپل اصطراحت وکړو.

ویده شوم،

د شپې مې خوب کې ولیدل، چې سلیمان ښه خوشحاله دی.

او په ښکلو باغونو او طبیعي ځایونو کې ګرځي.

چې له خوبه راپاڅېدم، په مخ مې نرۍ نرۍ خوله راماته وه.

د هارون مور ته مې وویل:

تر څو یو ګیلاس د څښلو اوبه راکړي.

اوبه مې وڅښلې، یو څه آرام شوم، مګر د خوشحالۍ احساس مې وکړ.

ځکه د سختو تېرولو وروسته ورته الله تعالی تر ټولو ښه ثمره ورکړه.

د همدې ورځې په سبا مې ولیدل، چې په فیسبوک کې یو ناول ډیر پورته کیږي.

ketabton.com - The Digital Library


د ناځوانه انجلۍ په نوم، ما هم پرې کلیک وکړ.

د لیکوال نوم یې سیدادریس سادات وو، کوم چې ما ورسره د درونتې په کمر کې لیدلي وو.

ما هغه وبېژانده، په کتاب کې یې نمبر لیکل شوی وو، لومړی مې ټول ناول ولوست، او بیا مې ورته مسیج وکړ.

اسلام علیکم سادات صاحب

فکر کووم، سادات انلاین نه وو.

ما نستونې رابلۀ وهل تر څو اودس او لمونځ اداء کړم.

د ماښام وخت وو، لمونځ مې اداء کړ.

بیرته چې موبایل ته راغلم، د سلام ځواب راغی.

د سلام کلام وروسته مې ورته ځان معرفي کړ.

هغه ډیر زیات خوښ شو، او د دوهم ځل لیدنې او پاتې کیسې د اوریدلو لپاره ډیر زیات لیواله وو.

دا چې زه هم ننګرهار کې وم، نو ومې غوښتل تر څو د سادات وخوا ته ورشم.

خو دا وخت هم شپه ناوخته وه.

او له سادات سره مې سبا د ورځې څلور بجې ماذدیګر وعده وکړه.

ketabton.com - The Digital Library



چې انشالله سره به کینئ.

مگر ځای معلوم نه وو، ما ورته د خپل کور دعوت ورکړ، مگر هغه وویل:

نا دوهمه برخه به هم په هماغه پوسته کې راته وایې.

کومه پوسته کې چې دې اول ځل راته کیسه کړې وه.

او دا یې هم وویل:

چې زه خپل هاغه ټول ملگري هم درولم، کومو چې دا کیسه اوریدلې وه.

تر څو له دوهمې برخې یې هم دوستان هماغه رقم خوند واخلي.

او خاصکر دا ځل حکمت هم ستاسې د کیسې اوریدلو ته ډیر زیات لیواله دی.

دا شپه هم پخیر او خیریت سره تېره شوه.

په سبا یې سادات سره د ملگرو ماته پخپل وخت په هماغه ټاکلې پوسته کې ناست وو.

زه هم ورغلم، او تر ډېر زیات وخت وروسته له سادات او ملگرو سره یې مخ شوم.

یوه شیبه کښېناستو، سادات له ځانه سره تیار چای، ممپلي، بادام او پسته هر څه راوړي وو.

ketabton.com - The Digital Library


او ما ورته پاتې شوې کیسه داسې شروع کړه.

هر کله چې زه له دې ځایه د نیلاب په طرف روان شوم، نو په لاره کې غلو ونیوم.

ما سره هیڅ هم نه وو، ځکه نو یې پنځه سوه افغانۍ راته په جیب کې کېښودې.

زه یې پدې خیګڼه هیڅ پوه نشوم.

امکان لري، زړه به یې راباندې خوږ شوی وي.

خو نا دا د خدای کرم دی زه چې په هر ځای کې یم، شکر بند نه راځم.

په هغې ورځ هم راسره هیڅ نه وو.

ځکه نو خدای راته دغه لیاره جوړه کړه.

زه بیرته په موټر کې کښېناستم، نیلاب راته په موبایل کې د کابل آدرس راکړی وو.

زه هم کابل ته ورپسې راغلم.

هغې راته ویلي وو، چې د کابل په شهرنو سړک کې د هغه کور دی، او زه باید هلته ورشم.

ما په کابل کې له آرزان قیمت څخه تر شهرنو پورې شخصي موټر کرایه کړ.

ketabton.com - The Digital Library


له آرزان قیمت څخه و دې موټر کې کښېناستم.

دې کرولا تر شهرنو پورې راورسولم، داسې د شپې یوولس بجې به وې.

په شهرنو کې یو هوټل والا ته ودرېدم.

د آم خوندور جوس او یو څه کباب مې ورسره وخوړل.

ماته د نیلاب کور معلوم نه وو.

خو راغلی وم، ښه وو، نیلاب راته موبایل کې د یو ځای نوم خودلی وو.

د هغه ځای نوم گل بهار سنټر وو.

ویلي یې وو، د همدې مارکیټ په خوا کې داودزی پلازه کې مې کور دی.

زه همالته ورغلم، د شپې ناوخته وو.

هره خوا خاموشه خاموشي وه، د وزارت خارجه و مخې ته درې څلور پولیس ولاړ وو.

یو څو شیبې ورسره کښېناستم، خپل ځان مې ورسره معرفي کړ.

عسکر د میدان وردگو ؤؤ، دا چې په میدان کې ما هم جهاد کړی وو،

نو ټولو سره مو ښه وپېژندل، دوې نوې راغلي وو.

ketabton.com - The Digital Library


د جهاد پر وخت دوي په کلي کې وو، او په هغه وخت کې ډیرو زړورو عسکرو هم جنګ ته زړه نه ښه کاوه.

ځکه چې مرګ وو، او بیا د نړۍ ځلویښتو سترو طاقتونو ته ماتې ورکول وو.

دا ډیره سخته وه، مګر ما سره بله لیار نه وه.

زما له ژونده زړه تور وو، ځکه دلته پاتې وم.

خیر په هر حال دا مهال مې مطلب دا وو، تر څو لدې عسکرو څخه د نیلاب د کور معلومات وکړم.

لدې عسکرو سره په لګه شېبه کې ډیر زیات بلد شوم.

په آخر کې مې ترې د هغه کس د کور پوښتنه وکړه:

کوم چې راته نیلاب خوولی وو.

د هغه نوم حاجي ببرک وو.

هغوی وویل:

ستا له هغه سره څه کار دی؟

دا مهال عسکرو راته کور وخود، زه هم وروان شوم.

هغوی راباندې غږ وکړ.

خیر شه، د هغه خاوند خو په وردګو کې د فتحې پر مهال مړ شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library


ما وویل:

دا څه وايې؟

خپل یو مشر ته یې غږ وکړ، هغه مشر یې په جګړو کې ونډه اخیستې وه.

هر کله چې ما د دوی مشر ولید، نو ومې پیژانده.

ما او هغه یوځای د میدان په جنګ کې برخه اخیستې وه.

ښه کلکه غېږه مې ورکړه.

تر ډېر وخت وروسته مې دغه ځوان ولید.

هغه په سنګر کې ډېر زیات تکړه وو، او چې د کومې پوستې د نیولو تکل به یې وکړ.

روغه ترې نه وته، د هغه نوم یعقوب وو.

هغه وخت زموږ مشرانو کې هم حسابېده، خیر موږ خو خپل مشر درلود.

خو د دوی په ولایت کې دی هم زموږ مشر وو.

تر روغبړ وروسته مې ورڅخه د دغې ببرک حاجي ببرک په اړه وپوښتل، د هغه تر سترګو اوښکې وبهېدلې، او ویې ویل:

حاجي ببرک هغه سړی وو، کوم چې امریکانو په ډرون الوتکه د غره پر سر د فتحې نه درې ورځې مخکې وویشت.

ketabton.com - The Digital Library


د هغه مولوي خبره بیا په ټولو عسکرو کې خوره شوه، او هیڅوک به هم په میدان کې د غره پر سر او په ښکاره نه ګرځېدل.

ځکه نو ما یې هم کیسه اوریدلې وه.

یعقوب ته مې ټوله کیسه صفا صفا وکړه، هغه هم راسره څو عسکر ملګري کړل.

تر څو کور ته یې ورشم، هر کله چې کور ته ورغلم، بیخي روح رانه وتی وو.

ماته دا معلومات نه وو، چې هغه ژوندۍ ده.

بیا د هغې نه وروسته راته د دې معلومات هم نه وو.

چې هغه د یو سړي سره ځانته اوسیږي.

هر کله چې مې یې د کور ټالۍ ورووهله، لږ څه ورته تم شوم.

مګر څوک رانغی، عسکرو وویل:

شپه ناوخته ده، په زوره زوره یې ووهه.

ما ورته وویل:

نه!

هغه به ویده وي.

هغې یې په خوب کې مه ورانوۍ، په کلاره یې باید ورووهم.

ketabton.com - The Digital Library


دروازه مې يو ځل بيا ورټک ټک کړه، دا ځل يو دولس کلن ماشوم راووت.

او ويې ويل:

کاکا جانه څه خبره ده.

ووايې.

له ما خبرې هيرې شوې، دا مهال مې هيڅ هم نلرل، چې دې ماشوم ته يې ووايم.

له شانه يو عسکر ماشوم ته ورغبرګه کړه:

مور ته دې غږ وکړه، او ورته ووايه چې د پوليسو قومندان درسره کار لري.

ماشوم ولاړ، لګه شيبه نه وه وتې چې بېرته راغی.

او ويې ويل:

کاکا جانه!

خير دی، مور به تاسې ته سبا د کور کرايه درکړو.

مور مې په کوټه کې بيده ده، نه غواړم، چې هغه يو ځل بيا خوابدې ووينم.

ماته خندا راغله، د دولسو کالو ماشوم او دومره زيرکتيا! دا صرف د نيلاب اولاد کيدای شي.

ketabton.com - The Digital Library



زه ماشوم ته په ګونډو کښیناستم، د هغه سترګې مکمل نیلاب ته تللې وې.

ورته مې وويل:

بچکه ته مه خفه کېږه، زه راغلم، انشاالله تر دې وروسته بدې هیڅکله هم مور خوابدې ونه ویني.

اوس ورشه او مور دې راویخه کړه.

ماشوم وويل:

ریښتیا؟

چې داسې ده، دادی اوس ورغلم.

ماشوم ولاړ، او پر ما دغه څو لنډې شیبې لکه د کال تیرېدې.

ما تر څوارلسو کالو ورسته له نیلاب سره لیده کاته کول.

ځکه نو د هغې لیدو ته بې اندازې زیات لېواله وم.

یو وخت مې ولیدل، چې یوه سپینه پیغله په تکه توره شپه کې لکه د سپین څراغ زموږ و خواته راروانه وه.

هر کله چې زموږ خواته رانږدې شوه، ما د هغې په ځان شیندل شوي عطر وپېژندل.

هغه د یو قدم په فاصله کې چپ لاسته تاوه شوه، او په دیوال لګیدلې پټن یې ووهله.

ketabton.com - The Digital Library



د کور لویه لاره رڼا شوه، زما سترګې د لګیدلې څراغ په شغلو و سوځیدې.

سترګو ته مې لاس ونیو.

هر کله چې مې حالت معتدل شو، په کلار کلار مې تر مخ لاسونه لیرې کړل.

د هغې خوله وازه وه، په سترګو کې یې پخوانۍ د مینې او غرور ولولې پاتې نه وې.

غومبرې یې په کلار کلار غونج کړ، خوله یې بنده کړه.

د میرویس د ویلو کوښښ یې کاوه، مګر د میم څخه مخکې نشوه تلای.

هغه زما غیږې ته راپریوته.

او ما هم ترې لاسونه تاو کړل، وخت خو د داسې کار نه وو.

څکه عسکر ولاړ وو، خو په هر حال له عسکرو سره مې کیسه خلاصه کړه.

عسکر و خپل ځای ته ولاړل، او ما د نیلاب سره تر ډېر وخت وروسته ولیدل.

ما نیلاب ته وویل:

نیلاب زه خو ستا په لیدو او د ژوند په خبریدو، څکه حیران شوم.

ketabton.com - The Digital Library



چې زه خبر شوی وم، ته مړه شوې یې.

مګر ته زما په لیدو ولې دومره حیرانه شوې؟

هغې وویل:

ماته هم ویل شوي وو.

چې ته مړ شوی یې.

ځکه مې ببرک سره واده ته غاړه کېښوده.

خیر دا یو تصادف وو، د همدې ورځې په سبا مې د دولت په ذریعه د دې کور کرایه ورختمه کړه.

او ما او نیلاب ننګرهار ته د تللو تکل وکړ.

همدلته مو د پوستې په قومندان یعقوب باندې ځانته نکاح وتړله.

ټولو عسکرو د خوشحالۍ ډزې وکړې.

او موږ پخیر د ننګرهار پر لور حرکت وکړ.

په ننګرهار کې مې زړې مورکۍ او کشر ورور ته د اول نه ویلي وو.

تر څو د واده مراسم ونیسي.

مور مې راسره نه منله، مګر یو رقم مې رضا کړه.

ketabton.com - The Digital Library


هغوي هم د واده لپاره ډير ښه تياری ونيو، ما هم نيلاب عرايشگاه ته بوتله، او ښه ښکلی سينگار يې ورته وکړ.

د هغې ځامن مې هم له ځانه سره روان کړي وو.

نيلاب له خوښۍ نه په جامو کې نه ځاييده.

مور د خپل ژوند سختې شيبې تيرې کړې وې.

او خپل راتلونکی مو ډير خوږ ترسيماوه، او همداسې وه هم!

زما په واده کې زما ټولو ملگرو گډون وکړ.

دا چې مور د ننگرهار وو، نو په ننگرهار کې دا رواج وو، چې لرې او نږدې ټول خپلوان واده ته راځي.

بس هغه يوه ورځ وي، بيرون په کلي کې ډولونه او اتڼونه وو.

دننه په کور کې مې ورور مولوي صاحب راغوښتی وو.

او زموږ نکاح يې تړله.

ټولو خلکو ښه ډير اتڼونه وکړل، هر کله چې زه ورووتم.

نو زه يې هم ميدان ته کړم، بس خدای دې معافي وکړي.

ښه سم د زړه براس مو پکې وباسه.

او د واده په اخيرې شيبو کې کوټې ته ننوتم.

په کوټه کې نيلاب هر څه سم کړي وو.

ketabton.com - The Digital Library


مګر هغې د ناویانو په څير خوي نکاوه، ما ورته وويل:

ماته دا ارزښت نلري، چې ته راته ځان يوه واده شوې پيغله وخايې.

پدې سره زه هم خفه کيږم

او  ته هم خفه کيږې، راځه چې نوی ژوند پيل کړو.

او نوی کور ودان کړو،

ما له نيلاب سره پوره دوه کاله ښه په خوښۍ سره تېر کړل.

يوه څو ورځې مخکې مې موبايل ته زنګ راغی، ومې کتل نا بلده وو.

زړه نازړه مې وچت کړ.

چا خبرې نه کولې، ما ورته سلام وکړ.

د مقابل له لوري ځواب راغی، بې وفا د نيلاب په غم کې دې يلدا هېره کړه؟

مګر شکر اوس خو پيدا شوه.

خير دی اوس خو يلدا هم لږه لږه يادوه.

په ما رپ ولګېد، ما ويل تاسې څوک؟

ويل يې:

زه يلدا يم، ستا پخوانۍ مينه کاش چې ما ته نه وای پريـــخی.

افســوس!

ketabton.com - The Digital Library


خیر د بدو په بدل کې مې بیرته درسره ښه هم وکړل.

ستا یلدا تاته پیدا شوه.

دا ټول ماته دعا کوه.

نور یې موبایل بند شو، دا وخت مې له سادات څخه پوښتنه وکړه.

هغه موسکی شو، او داسې یې وویل:

په هغه شپه له مورږ څخه زمورږ ملگری حکمت نه وو خفه شوی، بلکې دا زمورږ پلان وو.

تر څو ستا کیسه واورو،

ټول ملگري صرف دومره خبر وو، چې سادات د میرویس کیسه لیکي.

ځکه یې کیسه اوري.

خو نه داسې نه وه، سادات له یلدا څخه پوره پنځوس لکه افغانۍ اخیستې وې.

ترڅو ورک شوي مینان سره یو ځای کړي.

سادات په دې کې دوه گټې لیدلې وې، هم به پیسې واخلي، او هم به یې دوه مینان سره یو ځای کړي وي.

د پوستې ناست ټول ملگري ایله اوس پوه شول، چې اصلي کیسه څه وه.

ketabton.com - The Digital Library


مگر حمزه له قوماندان میرویس څخه وپوښتل، قوماندان صاحب تاسې اوس هم کومه پوسته کې یاست؟

میرویس وویل:

نه وراره زه اوس مهال د ماین پاکۍ په برخه کې له حکومت سره کار کووم.

شکر پدې کې تنخوا هم لږ څه ډېره ده، او بل کوم کار چې د مرگ سره لوبې نه وي، هغه ماته خوند نه راکوي.

او دلته په پوسته کې پاتې کېدل راته د ډېرو کمزورو خلکو کار ښکاره شو.

ځکه نو ماین پاکۍ ته ولاړم.

مگر هغه ځای له فکره ډیر سخت وو، ځکه مخامخ جنگ کې که سړی ولگیږي.

نو روغ ترې وتلای شي، او هم دومره زیات آثر نلري.

ځکه پردي ویشتی یې، مگر چې ښه پوهیږي.

چې ماین خراب شو، او دربانديې والوزی، د دې درد بیا بلها زیات درد وي.

په همدې ورځ سادات له یلدا سره هم وغږولم.

ketabton.com - The Digital Library



هغې خپله پخوانۍ مینه یو ځل بیا را ژوندۍ کړې وه، له هغه سره چې کوم هلک وو، هغه یې له یاده وباسلی وو.

او لدې کیسې تر اورېدلو وروسته سادات بیا تشویق کړم.

تر څو په یلدا پسې ورشم.

او هغه هم د خپل کور میرمن جوړه کړم.

پدې ورځ یو ځل بیا لکه د پخوا په څېر سادات خپل ننگرهار ته روان شو،

او زه هم پدې تکل روان شوم، تر څو خپله اصلي مینه یو ځل بیا وګورم.

د پنجشیر په غرونو یو ځل بیا دوره ووهم، له هاغه ځایه هاغه پخواني خوندونه یو ځل بیا واخلم.

پای


دریمه برخه انشاالله ډیر ژر.......

زما فیسبوک ایډي درسره تعقیب کړی، انشاالله دریمه برخه یې هم درته نشرووم.

که چیرې په غربیزه بڼه غواړئ ناولونه واورئ، نو یوټیوب کې یې زه سیدادریس سادات درته له SADAT TV څخه نشروم، ضرور یې وګورئ.

ketabton.com - The Digital Library





ketabton.com - The Digital Library

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*